# اعلان

ګرانو او قدرمنو لوستونکو پښتو ډاټ نیټ د دې کتاب سره ډیره خواري کړې ده او په ډیر عاجزانه طور ئې تاسو ته دَ مطالعې په غرض ډالی کوی د دې کتاب بې اجازت نقل کول ، چاپ کول یا زمونږ نسبت ترې لرې کول نه صرف دا چې اخلاقی جرم دے بلکې ډیر سخت منع دی

پښتونستان

پښتو ډاټ نیټ

Distribution ,posting or copying is strictly prohibited without written permission of Pukhto.Net

**Pukhto.Net**


غزل بن
Presented By
Pukhto.Net
علی خیل دریاب

# ترون

دَ

ډاکټر اقبال نسيم خټک

او

ډاکټر راج ولي شاه خټک

دَ درنو نامو سره

چې زۀ ئې په شاګردۍ

ويارم

دریاب

Pukhto.Net

## ټول حقوق محفوظ دي

| | | |
|---|---|---|
| د کتاب نوم | ———— | غزلے بڼے |
| لیکوال | ———— | علي خېل درياب |
| د چاپ کال | ———— | ۲۰۰۳ء |
| شمېر | ———— | پنځه سوه (۵۰۰) |
| کتابت | ———— | ارشاد خان "پښتو اکېډمي پېښور" |
| بيعه | ———— | شل روپۍ |

PukhtoNet

## درکونه

* دفتر همېشه پښتو ادبي ټولنه (رجسټرډ)
  آمان دره ملاکنډ ايجنسي
* درياب برادرز مېن بازار بټخېله
  ملاکنډ ايجنسي
* ګنج ايکسرې اېنډ کلينيکل ليبارټري بېرون ګنج دروازه
  پېښور
* جميل برادرز بکسيلرز بټخېله
* حماد بک سنټر امير افضل خان پلازه - مېن بازار بټخېله

# د انتخاب

زما خوا خوږي، کشش او په پښتو مئین خیّام یوسفزي زما د شاعرۍ د هغې برخې نه کړے دے. کومه چې په دې نږدې وختونو اړتیا لري. هغه په دې لړکښې بېخي د خپلې مرضۍ، مذاق او طبعې سره سم د کلام چوڼ کړے دے. ځکه نو د انتخاب څه کلامونه داسې هم لري. چې هغې کښې شوخي هم شته، تنافر هم او غرابت هم. که چرته ما کولې شوې نو دغه رنګ کلامونه به ترې مالوې کړي وو. خو د خیّام یوسفزي په خیال چې لیکلي شوي دي نو اوس یې په خپرېدو کښې څه باک دے.

په هر طور خیّام زلمے دے. د تورو احساساتو او جذباتو ښتن دے. مئین دے. او د حُسن پرست دے. په غزل بڼي شوے دے. چې څه یې زړه او نظر رابنکو دے دے. هغه یې راغونډ کړي دي. او دا دي ستاسو تر لاسو یې را اورسول.

"غزل بڼ" کښې څه دي. دوه کم شپږ نیمې شلې غزلې یعنې یو کم اته سوه شعرونه. هسې خو په غزل کښې بېت دوه د انتخاب وي. ولې زما په دې ټول غزل بڼ کښې که چرته یو بېت هم د انتخاب اوګرځېد. نو دا به زما نېکمرغي وي.

زه دا ده یم چې ما پخپلو شعرونو کښې سیمئیز توري پکار راوستي دي. کوم چې به د نورو سیمو د لوستونکو د پاره

Pukhto.Net

ناآشنا ضرور وي. ولې يو اړخ ته که د دغه تورو نه ډېره
کول ما د پاره ناشوني وو. نو بل اړخ ته مې خوندي کول ما د
پښتو ژبې د پاره يوه ارزښتناکه اثاثه هم ګڼله. دغه رنګ
"غزل بڼ" کښې ما شعوري کوشش کړے دے. چې په ځينو
ځايونو کښې هغه صيغې راغلې کړم. کومې چې زمونږ په سيمه
مستعمل دي. اګر چې د ګرامر د قاعدو په خلاف هم دي ولې د
سيمې استعمال د دغه اسانئ نه فائده نه اخستل ما ته د
کفران نعمت نه کم نه ښکاريده. ځکه نو زه معترف يم چې
د دغې بدعت جرم ما قصداً او ارادتاً کړے دے.

په آخر کښې زه د هغه ټولو مينانو منته په ځائے
راوړم. چې د دې کتاب د خپرولو په خبر کښې ئې د خپلې
برخې څه نه څه ګډه غورځولې ده.

علي خېل درياب

امان دره. (شګۍ)

# باور

ګرانه دریابه وروره!

فکرونه دې نور هم سندریز شه

زه نه پوهېږم چې ستا د شاعرۍ د لوستونه پس د خپلو جذبو اظهار له څنګه لفظونه ورکړم. ځکه چې ستا د ځوانو او تودو احساساتو اړخونه بنه ډېر دي او زه ګمان کوم چې ستا په ځنې ځنې شعرونو کښې لاشعوري طور داسې خوندور ترکیبونه ځای شوي دي چې ته به پرې خپله هم نه يې پوهه شوې. دغه د آمد هغه کیفیت وي چې بیا وروستو د شاعر د عظمت اعتراف له ادبه ورکوي.

وروره! زه نه خو شاعر یم او نه د نثر لیکلو په رموز پوهېږم. خو لکه ستا د حالاتو په دغه تود تنور کښې سوزم لکه ستا یو حساس زړه لرم. ځکه نو د خپل احساس د ټکور دپاره لفظونه ترتیب کړم. بیا د یارانو خوښه چې څه ورته وائي او زه د حمزه بابا د دغه فکر مطابق په تماشه ولاړ یم. چې!

Pukhto.Net

؎ چې خپل غزل د جانانه واورم حمزه
وایم چې چا هسې وینا کړې ده

ولې چې ستا شاعرۍ مې اولوسته نو د ملاکنډ د ګلورینې خاورې ټولې خوشبویانې مې ذهن ته راغلې. ما داسې محسوسه کړه لکه چې د نعیم راتلې هاغه خوب رښتیا شوے وي چې

؎ ځم د ملاکنډ د سره زیرے په خیبر کوم
شو د کوهستان په دنګو غرونو کښې زلمے غزل

د غزل د زلمیتوب دغه ټول کیفیات، ټول جذبات ستا په یک کښې ښکاره او جوت دي. ځکه نو ستا دا دعوی په خپل ځائے وزن لري. چې ؎

دا زما د سیمې خاوره
رنګ زما په شاعرۍ شوه

ملاکنډ د پښتون تاریخ په حواله لکه د خیبر خپل ارزښت لري. دې لارې هم په خپله لمن کښې د پښتون قام د عظمت ډېر خاپونه خوندي ساتلي دي - او د دغه خاورې اثر ستا په شعر کښې یقیناً چې د ستاینې وړ دے.

؎ غېږه د جانان ئې رانه لېره کړه
څومره دې نازکه پښتو غېږ ده

دریابه ورو ره!

هم دغه پښتو ده - هم دغه لاشعوري طور د یو والي احساس دے - چې زمونږ ترمینځه ئې د ترون رشتې ټینګې

ساتلې دي. ولې بدبختي دغه ده، چې نن پښتون "سر" نه لري هر څوک د خپل غرض په خاطر د پښتو او پښتونولۍ ټپه کوي خو چې کله خبره عمل ته راشي نو بيا په دې موجوده حالاتو کښې هر چا اوليدل چې دلته څوک د پښتون قام په درد زړۀ خوږي؟ هم دا پرونۍ خبره ده چې په افغانستان کښې د استعماري قوتونو د لاسه اُور تود شو. پښتانه چې اوو ړلې شول. نو قام پرستانو څۀ اوکړل؟ له د طالبانو سره د دوئ "نظرياتي اختلاف" وو. نو دغه خاوره خو د ابدالي خاوره وه. دغه خاوره خو د "ميرويس بابا" خاوره وه. نو دې قام پرستو داغږ هم اونکړو چې ددې پښتنې خاورې دا ژوبل ژوبل سينه د کوم - جرم سزا ده؟ زۀ منم چې په دغه حالاتو کښې تا هم لکه زما پټ پټ ژړلي دي. تا هم لکه زما د قام پرستو په رويو ټکونه کړي دي. او شاعرۍ دې دغه جذبو له ډېر مناسب او تللي لفظونه ورکړي دي.

ملالۍ غريبه مړه ده
څنې بيا کرم ميوند دے

دغه شعر دې هم د زړۀ خبره کوي

بيا پرې "شين سترګي" ورځي اورونه
بيا د ميوند نه ملالۍ غواړم

هاغه د بارودو په لوګو کښې د پښتونخوا د. چې لمبه لمبه اختر ما ته هم ياد دے او تا ته هم.

ـــ موږ روایاتو ته دوام بخښلے

موږ په ښوونو کښې اختر کړے دے

دریابه وروره !

دا ټوله بې حسي په دې وجه ده چې ـ موږ خپل قامي وحدت بائيللے دے . فرنګي چې په کال ۱۸۹۳ کښې زموږ په سینه د ډیورنډ کومې کرښې راښکلې دي. هغې موږ د یو بل نه پردي کړي یو. زموږ نه يې د اجتماعيت احساس تروړے دے. موږ د يوې ژبې ويونکي، د يو نيکه او دد، د يوې خاورې خاوندان د يو بل نه تالا والا پراته يو. زموږ د ټولې بربادۍ سوب د ملي يو والي نشتوالے دے. په دې ته هم ښه پوهېږے او لکه ستانو احساس فکرونه هم :

ـــ پښتانه دغسې خواره واره دي

لکه د هاره چې غمي مات شي

*

کاڼے هر يو کس په تنه ايښے دے

دلته کښې په چاپيرې سرچړه دے

*

څو تېرېږي چې په بره نور قامونه

ورځې چې تېرېږي پښتانه لوېږي

پښتانه خو لا د ځانه وتي نه دي

نور قامونه د اسمانه په وتو دي

منم چې ته پښتون يې او د پښتون قام د شملې هسکوالي دې ارمان دے . دا ارمان به يوځل خواه مخواه پوره کېږي ځکه چې پرون چې په پښتون قام کښې د علم او پوهې کوم نشتوالے وو. هغه اوس رو رو له منځه ځي . او چې هر زلمے لکه ستا داسې فکر او دريځ نو بيا د ځان ګټنې منزل دومره لرې نه دے . قامي يووالے ، قامي وحدت د جديد علومو د زده کړې په بدل کښې حاصلېدے شي . ځکه چې نن د مقابلې دور دے د سائنس او ټيکنالوجي د زده کړې د مقابلې دور. حالات داسې زيږي راوړي چې په دغه تورتم کښې به د اميدونو ډيوه او رو مرو روښانه کېږي .

دريابه ستا د فکر رڼايي پکښې خوره شوه

ګني زمونږ دا کلے خو تياره پاتې کېدو

دريابه وروره !

ستا د جذبو په اظهار کښې د رومانيت ټول رنګونه هم ستا د زړه خبرې کوي . او چې کوم زلمے د ملاکنډ په خاوره خړپوسې او کړي رالوئے شي . زلمے شي او بيا د نوکرۍ په ترون د "چکېسر" غونډۍ واورينو څوکو په لمن کښې د رنګونو او ښائستونو تماشې او کړي نو نخپله شاعري کښې به خواه مخواه د "واورينو شپو" ذکر کوي . زه نه پوهېږم

Pukhto.Net

چې دغه بخو شپېو سره ستا کوم یادونه تړلې دي. خو بهرحال ستا شاعرۍ ته ئې ښه په زړه روانې او بې ساختګي ورېخښلې ده.

ــ ځان مې او بډلو دَ مینې جوارۍ کښې
ته مې او ګټلې ځکه سر په سر شوم

ستا دَ تغزل هره نمونه په راتلونکي وخت کښې ستا دَ زورې مشاهدې دَ نور خوندور اظهار زیرې راوړي.

ــ رنګ دې اخلي دَ سالو نه
که شفق دے که اُفق دے

شاعران چې څه ته حُسنِ توارد وائي. ستا په شاعرۍ کښې راته ځائې په ځائې دغه څه ښکاره شو. لکه چې ما یو غزل دې پروړاندې لیکلے وو. مطلع ئې وه

ــ وخته هر څه واخله جانان مه اخله
زما دَ صبر امتحان مه اخله

هم دغه دویمه مصرعه ستا په یو غزل کښې دَ حُسنِ توارد واضحه نمونه ده.

ــ آئینه لاسو کښې قربان مه اخله
زما دَ صبر امتحان مه اخله

یا چې خاطر بابا ویلي دي

ــ خلق پرې تېر شوي دَ سرونو نه
خوله ترسنه خاطر په تشه خوله غواړي

PakhtoNet

ستا دا شعر دَ بابا سره نژدې رنګ اې.

دریابه خوله به ترېنه څنګه غواړې

دَ خولې غوښتنه خو هم خوله غواړي

ستا په شاعرۍ کښې دَ بې ساختګۍ څنې اړخونه په شعور کښې غور څُنګ پېدا کوي. خو ستا دَ ځوانو جذبو په اساس زۀ دغه اظهار ته په ډېره درنه سترګه ګورم. ملاکنډ دَ شاعرۍ په لحاظ نن بنۀ موړ پټو دے. او که څرې زۀ دا اوواېم چې دَ پښتو ادب په حواله به را روان دور دَ ملاکنډ دور وي نو بې ځایه به نۀ وي. ځکه چې په نثري ادب کښې دَ پښتو ناول - په دې نژدې کلونو کښې هم ملاکنډ ژوندے او ساتلو. دَ پاینده محمد خان "دَ دشت لوط مسافر" دَ ابراهیم شبنم "اجړه" او دَ رحیم شاه رحیم "راجګنړه" او "بي بي مبارکه" ددې دعوې واضح ثبوتونه دی. دغه رنګ په شاعرۍ کښې دَ رحمت شاه سائل نوم اوس ددې خاورې سره په نړېوال سطح پېژندل شوے او منلے شوے دے.

مونږ ټول دغه زوبنانه سباوُن ته سترګې په لار یُو. ځکه چې ژبه دَ یو قام مور وي. او کوم بچي چې دَ مور بنۀ خدمت اوکړي. هغوئ تل ترتله په تاریخ کښې یاد پاتې کېږي. نو دریابه وروره! زۀ درسره هم دغه خبره منم چې:

Pukhto.Net

ـه اوس به چرته هم بد رنګ دریاب نشي
دعاګانې درته سرو لاسونو اوکړې

چې د چا دپاره سره لاسونه دُعا ته پورته شي۔ نو بیا هاغه خواه مخواه منزل ته رسي۔ زهٔ هم ستا دپاره دغه جذبات او دغه احساسات لرم۔ او دا "باور" لرم چې تکه د "پښتو افسانې" به په "پښتو غزل" کښې هم د جدیدو لارو د لټون سفر جاري اوساتې۔

Pukhto.Net

د ډېرې مینې او نېکو پېرزوینو سره

لائق زاده لائق
ریډیو پاکستان پېښور

په زړونو کښې تيارې دي په ذهنونو کښې تيارې دي
د ځکه نو زمونږ په قسمتونو کښې تيارې دي

څه برنده محرومي ده تيند کونه خورو رالوېږو
په کلو کښې تورتم دے په ښارونو کښې تيارې دي

دا نه چې د جونګړو په ډيوو کښې مو تېل نشته
زمونږ خو د وطن په محلونو کښې تيارې دي

هغوئ د دنيا کانو وېش کوي په نړيوالو
چې خپله ئې دېره په ضميرونو کښې تيارې دي

Pukhto.Net

تر هغې به دَ بنې ورځې په څېرې راښکاره يو
تر څو چې مو يو بل ته په نيتونو کښې تيارې دي

ښکاره ئې دَ تقوىٰ مسئلې څې په هوا بره
دننه دَ شيخانو په موخونو کښې تيارې دي

دريابه دَ شعور کهکشانونه ورله راوړه
مېشته زمونږ دَ خلقو په سرونو کښې تيارې دي

څېړس

* * *

Pukhto.Net

Pukhto.Net

ګل پاڼې ورځ نه وته شپه نه وته
ستا نه بغیر یوه لحظه نه وته

هاغه چې زه تلمه ته غریږ اونیوې
په تیوله لاره مې د زړه نه وته

زما د ژوند څنې وتلې ده خو
د لاشعور نه زما ونه وته

ستا د یادونو ناقلاره واړه
د خیال د کوره مې وېسته نه وته

زما نمر مخې ښاپېرۍ ېې لټا
دَ روح دَ چمن ته مې تيارهٔ نهٔ وته

دريابه لوند اوربل ئې نهٔ وچېدو
سحر به هر ته شرمېدهٔ نهٔ وته

چکېس
اګست ۲۰۰۰ء

*
* * *
*

Pukhto.Net

Pukhto.Net

په مصیبت ناروغه نهٔ رغیږي
دَ محبت ناروغه نهٔ رغیږي

دَ بد نیتۍ هېڅ علاج نشته دے
منه دَ نیت ناروغه نهٔ رغیږي

روغ شي ناروغه په دارو دَ صورت
خو دَ سیرت ناروغه نهٔ رغیږي

سرې دَ لوے کاڼي نه لاندې ښهٔ دے
چې دَ رشوت ناروغه نهٔ رغیږي

ددې اولس غور ضرور پکار دے
په نصیحت ناروغه نهٔ رغېږي

پرېږدئ چې ژاړي دَ ضمیر په مړي
دَ سیاست ناروغه نهٔ رغېږي

دریابه روغ شي په دولت ناروغه
خو دَ دولت ناروغه نهٔ رغېږي

چکېس
۲۵ اګست ۲۰۰۰ء

Pukhto.Net

*
* * *
*

سترګې زمونږ سپړلي ته ښکته نشي
ستا د جمال شوخي دې ټيټه نشي

که مجبوري که کمزوري ورته وي
خو کار مې بې له محبته نشي

ښکل په اودو مې کړه په نيمه شپه کښې
څوک وائي غلا چې له جنته نشي

څومره سپېڅلې به وي هغه ځواني
چې پرې اوچته د چا ګوته نشي

Pukhto.Net

نن به ئې اومنم د سپینې خولې خو
وړهٔ ده پام چرته عادته نشي

خدایه بې وسه به په دې یمه چې
څوک مې ازار له شخصیته نشي

ژوندے په زمکه ننوتے بهٔ دے
دریاب دې چرته کښې بې پته نشي

سر په دشتونو له ازله یمه
خار مې دریابه له وحشته نشي

شګئ

۲۳، اپریل ۲۰۰۱ء

* * *

Pukhto.Net

څوانۍ پرې داسې کړې دي ګلونه بهارونه
چې فکر ورته وړې دي ګلونه بهارونه

ښکلي او رخسارونه ئې د کور له کاره روسته
ته وې به لکه سترې دي ګلونه بهارونه

اشنا ستا د مُسکا د قیامتونو نه خبر دي
داڅکه یره زړې دي ګلونه بهارونه

ګلرنګه زه ئې منم ستا نازبینې پېرزوینې
که شر دے که جګړې دي ګلونه بهارونه

دریابه آهو سترګې نرمې شونډې شنه خالونه
قسمت غمې ته راوړې دي ګلونه بهارونه

چکېس

Pukhto.Net

Pukhto.Net

ځان مې په حال کوو خو په حال نهٔ شومه
پوهٔ دې په لذت دَ وصال نهٔ شومه

ما باندې صدمو تجربې اوکړلې
زهٔ يم چې ذره هم ملال نهٔ شومه

ډېر مې ډېوالونه شو دَ لارې خو
شُکر دے چې زهٔ ئې ديوال نهٔ شومه

ښکليه بيا ستا دَ جواب څرته ووم
ښهٔ ده چې په شونډو دې سوال نهٔ شومه

کړم دې دَ وحشت په سورارا لتاړ
لوند دې دَ اوربل په شمال نۀ شومه

زۀ جوړ ازلي سپېرۀ دریابۀیم
غیږ کښې دَ جانان چې خوشحال نۀ شومه

*
* * *
*

Pukhto.Net

## یادګیرنه: د ملګري اقبال شاکر په غزل تضمین شوې غزل

Pukhto.Net

چې چرته کښې ځوانۍ وي بناستونه پاتې پاتې
څنګ هلته به بیا نه وي احساسونه پاتې پاتې

بغیر زما د خیاله که دې بل تصور اوکړو
"په تا دې درسې شي قرآنونه پاتې پاتې"

ښکاربڼي خپل وچ شوي ګلابونه ئې اخستي
په ما ئې هسې ټول کړل کتابونه پاتې پاتې

اخر نو خدایه کفر د نعمت دې څنګه اوکړم
راځي راله خواره واره لاسونه پاتې پاتې

نن بیا دَ واورې شپه ده نن مې بیا مځې ته کېږي
رپېږي لهٔ یخنۍ نه به ګلونه پاڼې پاڼې

دې بڼ کښې دَ ګور ګورو لوګي زمونږ دَ کلي
که سکڼو تړوړ مو کښې دې رنګونه پاڼې پاڼې

دریابه دَ زړګو پاڼې کول هغو ته څه دي
هغو چې دَ مینو کړل روحونه پاڼې پاڼې

چکیس

*

* * *

*

Pukhto.Net

بیا مې نن ښهٔ لېمهٔ را اورېدهٔ
چې مې په زړهٔ هغه را اورېدهٔ

دَ احساس تلمې مې رنګینې شولې
بېګاه پرې تموله شپه را اورېدهٔ

ستا دَ یادونو پوسې پوسې داوره
زما دَ روح په غرهٔ را اورېدهٔ

زهٔ چې راتلم لیونی نهٔ صبرېده
په ما شپه شپه را اورېدهٔ

زما جلال پکښې بهٔ اولمبېدو
چې دَ جمال نشه را اورېدهٔ

دَ ژوند زخمونو مې دریاب بهٔ شو
څوک پرې تو دهٔ تو دهٔ را اورېدهٔ

چکیس

Pukhto.Net

*

* * *

*

بیا مې د شنو سترګو بلا واخسته
بیا مې خود کشي له سنګیا واخسته

ما وې چې زما نه دې ساه واخسته
بیا چې دې نامه د سبا واخسته

ژوند د یو مسکې نظر په بیعه لاړ
دا مې خومره ګرانه سودا واخسته

سترګې مې ارمان غږوې چرته شي
وخت مې د رازونو حیا واخسته

Pukhto.Net

وه زما دَ ژوند او مرګ خبره خو
تا څومره اشنا په خندا واخسته

لاړې به دریابه اوس اسانې شي
لاره چې بې لارې بېګاه واخسته

شکې
۲۳ اکتوبر ۲۰۰۱ء

*
* * *
*

Pukhto.Net

Pukhto.Net

بلو لمبو ته مې سکاره اونيوه
ستا اننګو ته مې لمبه اونيوه

نن دې څپېړه د شوخۍ په غرض
نن مې دې لار په اراده اونيوه

تلله د لېچي مې را اونيوله
ما وې په لاس کښې مې لمبه اونيوه

اوس نو زما په مرګ کښې شک د چا دے
ګوته چې ما پله هغه اونيوه

راتلله، اودرېدله او شرمېده
ځ ته يې خپله لوپټه اونیوه

دریاب به نهٔ شولې اختر نهٔ به شې
هسې دې ټول عمر روژه اونیوه

شګې
۲۴ اکتوبر ۲۰۰۱ء

Pukhto.Net

*
* * *
*

لږه ګهړۍ نوے عذاب راوړي
دَ جمال خيال دې اضطراب راوړي

زما لاړلے زما قاتل تلے دے
دَ زړهٔ پرهر له مې تېزاب راوړي

زاهده خبنم به ئې په دغه هيله
توبه چې لګه شي ثواب راوړي

په نرګسي لېمو کښې سرهٔ دَ غضب
څنګ به ئې څوک دَ ليدو تاب راوړي

Pukhto.Net

زما احساس تږي ما په دوه ساقي
زما ځواني ماله شراب راوړي

لا سونه تش وي د دریاب بنسکلیه
تیکونه عمر له سیلاب راوړي

شګي
۲۶ اکتوبر ۲۰۰۱ء

*
* * *
*

Pukhto.Net

هغه له اخر زړه یو سمه ځله ګلابونه
په چا پسې چې ګوتې مروړې خپله ګلابونه

وایي چې زما د خوشبوګانو د رنګ غله دي
هغې د خپلو پښو لاندې مړله ګلابونه

غانټول غانټول چا نخره او نرګسي سترګې
سنبل سنبل ئې زلفې او راتلله ګلابونه

هغې د خپلې ملې سره لوبې پرې کولې
په لاسو ئې منل وېل ئې پله ګلابونه

Pukhto.Net

دَ بنګلي دَ بنګلا او نزاکت به درته ښهٔ وړم
دَ بنګلي دَ تلي نهٔ ده خزله ګلابونه

دریابه دَ سپېرلي سپېرلي شرونو نهٔ ځارشم
زما دَ یار خو هره یوه کنځله ګلابونه

چکبس

*

* * *

*

څڼې دې مه سپړه په عطرو دې سر مه غوړوه
بیا مې د خوږ زړګي ورغلې پرهر مه غوړوه

زه ازلي سپېره بدبخته یم بد مرغه یمه
هما په ما دې خپل ارزښته وزر مه غوړوه

وېرېږم سپورې پرې اشنا د ښاپېرو اونه شي
لوندې جامې په کشمالو کښې په نمر مه غوړوه

زه د خپل قام د بې قدرۍ زهرو وژلې یمه
زما په قبر د ګلونو څادر مه غوړوه

ستا په اخلاص باندې شک نه کووم خو دومره ده چې
د زړه غالۍ دریابه هر چاته زر مه غوړوه

شګې

۲۷ اکتوبر ۲۰۰۱ء

Pukhto.Net

Pukhto.Net

ما وژني ما پرېږدي چرته، ما ګورې راپسې دي
زما د ناکرده جرمونو سېځونې راپسې دي

حالات او حادثات راته يو ه د بلې شوي
په ما يې د ستم ګمرې اورې راپسې دي

لا ناست سره هم نه يو محبته څه بلا يې
سواره د ښلتانه دي په شا تورې راپسې دي

زه بنه په شم آسمانه يوه ذره هيله مې نشته
په ما چې دې سپېږه منحوسه ستورې راپسې دي

آخر نو زۀ به خنګه اعتماد د ربانډې اوکړم
چې ستا د بې لوظئ د ګمان سپورې راپسې دي

دریابه د غمونو سلسلې او بهیږ ونه
زما غونډې بې وزله په کمزورې راپسې دي

نیټه ۲۷ اکتوبر ۲۰۰۱ء
شکی

*
* * *
*

Pukhto.Net

یاد شې راته ته درپسې ژاړمه
ټوله شپه درپسې ژاړمه

تا خو دې د خدای د تصور نه هم خبر نکړې
څنګه څنګ چې زه درپسې ژاړمه

مریم ستا د مړو سترګو په مړو کتو
ځکه خو مړه مړه درپسې ژاړمه

ستا د ګرمې غېږې عطرژنې شپې
شې مې را په زړه درپسې ژاړمه

سترګه مې دریابه د چپانه سوزې
ګوره ښه ښکاره درپسې ژاړمه

نېټه: ۳۱ اکتوبر ۲۰۰۱ء

Pukhto.Net

Pukhto.Net

اووته له کوره بهر چرته ځې
بیا په توره شپه سحر چرته ځې

زړه مې د هر څه هر څه نه اووېستم
"ستا د اداګانو اثر چرته ځې"

دانګې له بارخو نه ګرېوانه پله
دا زما ګستاخه نظر چرته ځې

بیا مې وخت کابل په ارمانونو شو
خدایه! چې به ورېږي نهر چرته ځې

دا یمه رقیب خهٔ شو په کومه لار
لږ خو دي را اوګرځي نږ چرته ځي

او خپره دریاب له وریسي سینه
ګرانه ملغلري په سر چرته ځي

۸ نومبر ۲۰۰۱ء
شکی

*
* * *
*

Pukhto.Net

نوم دې په ډاګه په ښکاره اخلم
نن د خپل ځان ځنې پرده اخلم

د ښائستونو بازارونه ګورم
خدائے زده چې څهٔ لټوم څهٔ اخلم

د زړهٔ زخمونه مې پوټکې نيسي
ځکه تېرهٔ تېرهٔ بانهٔ اخلم

د نظرونو خريدار يمه خو
خنګ به په بيعه ښستانهٔ اخلم

درياب يم کاڼي وروه ښکليه
هر يو ګذار دې په سينه اخلم

چکيس

Pukhto.Net

ځان سره ظلم کوم بد کومه
چې د ښکلو تو سره ضد کومه

چې د پښتو په خلاف خوله پرانیزي
زه خو به خامخا پرې رد کومه

په لویه لار کښې ترېنه غاړه اخلم
د سادګۍ د اظهار حد کومه

زما قامي تشخص نه جوتوي
غندنه ځکه د سرحد کومه

دربغه چې ژوند کښې به پرې اوسومه
کار د ښکلا په داسې مد کومه

زړونه به خنګ دریابه نه راکاږي
یک په رنګونو د آمد کومه

نېټه ۲۹/۱۱/۲۰۰۱ ع
چکیسر

Pukhto.Net

Pukhto.Net

حُسنه سر ټيټې شمه خکته شمه
او خپل ضمير ته ملامته شمه

ستا دَ پرهوتو تقاضو په وړاندې
زهٔ خُنګه پرهوحُمه بې پته شمه

بنګلا ته کله ټنګ نهٔ شمه
بېخي ناپوهه ناشولته شمه

رنځه مې غېږ ته ځخوپه غليب کښې اشنا
هسې نه خلقو ته په ګوته شمه

په لویه لاره کښې ئې اوچېړمه
مجبور دَ خپل کافر عادته شمه

دریابه موړ شومه له هر څه نهٔ خو
دریغه که موړ له محبته شمه

نېټه: ۱/۱۲/۲۰۰۱ء

چکېس

Pukhto.Net

*

* * *

*

چې د ښکلوټو نه څو لګې غواړم
د سرابونو نه سيپۍ غواړم

چې آسمانونه تيتيدل به ورته
د پښتنو همغه پګړۍ غواړم

د بې وفا نه د وفا غوښتنه
پېڅۍ په غلبيل کښې د مرغۍ غواړم

بيا پرې ښين سترګي ورُوي اوروبه
بيا د ميوند نه "ملالۍ" غواړم

Pukhto.Net

دَ ژوند نبضونه مې پرېوتي اشنا
لږه ګرمي دې دَ ځوانۍ غواړم

دریاب به لوی شومه که بیا وړوکی
دا چې ککوړې دَ سپوږمۍ غواړم

*

* * *

*

تا که په ځان د لاس وهلو لاس اخستے نهٔ دے
ما هم د ښکلو د چېړلو لاس اخستے نهٔ دے

لا د ګودر اوبهٔ راوړي لا خو لوونه کوي
لا يې د سګو د غنډلو لاس اخستے نهٔ دے

وخت که د ژوند د غرهٔ له سره راځوړے هم يم
ما د ورتو ټپو کولو لاس اخستے نهٔ دے

که قاتلانې سترګې مغښي بانړهٔ ګرتوي
زړهٔ هم د زخم شو کولو لاس اخستے نهٔ دے

مونږ ته به نور نمر ونه هم دريابه او زېږوو
مونږ د رڼا د ګر کولو لاس اخستے نهٔ دے

پېښه :- ۹، دسمبر ۲۰۰۱ء

Pukhto.Net

داسې مې خوب سوي لېمه غواړي
لکه چې سخت تږي اوبه غواړي

د شبنمي نزاکتونو سحر
د اور په سورکومي کښې شپه غواړي

چا ورته اووې چې دے خله راځي
وي د ړندو نه ائینه غواړي

د بناستونو په چنار کښې تاله
په تا دوه غبرګي ځانګېده غواړي

اوشوې مودې چې زړهٔ پرې نشم کوې
ربښتیا دهٔ هرڅهٔ هرڅهٔ زړهٔ غواړي

دریابه خوله به ترېنه څنګه غواړې
دَ خولې غوښتنه خو هم خوله غواړي

نېټه:- ۱۱ دسمبر ۲۰۰۱ء

شاکی

Pukhto.Net

انځور چې پرې دَ ژوند دے
ستا دَ نرمو شونډو خوند دے

ملالې غریبه مړه ده
ګنې بیا ګرم میوند دے

ستا دَ سرو پېزار پښو دے
او زما په غاړه کند دے

دَ عدن ریښم چې غله دي
دومره نرم دې مړوند دے

مالا کښېږدۀ ښکلو ړک دے
خو جانان پکښې ځرګند دے

تا دریاب حُسنه تېر دے
جادوګره بند په بند دے

نېټه:- ۱۱، دسمبر ۲۰۰۱ء
شګئی

Pukhto.Net

*

* * *

*

چې په سترګو کښې مُسکې شوه
راخوره مې په ځوانۍ شوه

چې ئې ذکر دَ ناز اوشو
لا نیازبینه شوه تنکۍ شوه

بنګلا هغه ځائے ته یوړم
چې کښې دَ ژوندګۍ شوه

اوس چې زما دَ فکر
لږ رالوئے شوه دَ خمارۍ شوه

Pukhto.Net

دا زما دَ سینې خاوره
رنګ زما په شاعرۍ شوه

دا هم ډېره ده دریاب‌ه
چې داده مې په یارۍ شوه

نښته:- ۱۳ دسمبر ۲۰۰۱ء
شکۍ

Pukhto.Net

*
* * *
*

Pukhto.Net

موږ د سوچ نهٔ لرلو نظر نهٔ لرلو
موږ د سره هېڅوک نه لرلو

لا مو په ژوند برنده تیارهٔ خوره ده
لا موږ د خپلې شپې سحر نهٔ لرلو

د بې خبرۍ په ژور خوب اوده یُو
د یوې خبرې هم خبر نهٔ لرلو

اسمان که خپله برخه نشته زموږ
په زمکه هم پوله د کر نهٔ لرلو

څوک ورته څنګ راشي په کومې راشي
مونږه د زړه کماله ته ورنه لرلو

مونږ که د پوهې سره دړې کړي
مونږ د فنونو هم جوهر نه لرلو

د ترهګرو ګوته مونږ ته نیسي
مونږ په نړۍ څه بنه اثر نه لرلو

دریابه نور خلق سپوږمۍ ته خېژي
مونږ د شنړۍ ختو هس نه لرلو

نښته:- ۱۵/ دسمبر ۲۰۰۱ء

شګۍ

* * *

آخر دې زړهٔ چاودې زړهٔ چاودون په زړهٔ کښې ښځه دې
ترڅو به زور وي د ژوندون په زړهٔ کښې ښځه دې

هم نن ئې سره پیاله کالي ئې زړهٔ کښې ښځه
راځي دي شي گردشه د گردون په زړهٔ کښې ښځه دې

د علم په خوا نه ورځي او سترګې بندې نړۍ ته
په خدائې زما د کلي د پښتون په زړهٔ کښې ښځه دې

زهٔ حق لرم چې او غوارم خو نهٔ غوارم په دې چې
زهٔ ګورم چې د حسن د قارون په زړهٔ کښې ښځه دې

Pukhto.Net

مودې اوشوې چې ما نه مرور دے بر ناحقه
په ځه رانه خفه دے د سکون په زړه ګټې ځه دي

سزا به د دریاب بې پېکاوي وي ترابده
فطرت ته ستا د بنګلو د قانون په زړه کښې ځه دي

نېټه:- ١٧ دسمبر ٢٠٠١ء
شکئ
(د دروکي اختر ورځ)

*
* * *
*

Pukhto.Net

زما نه تربېدو دَ بدګمان په زړهٔ کښې څۀ وو
زما خو ورته خدایګو که په ایمان په زړهٔ کښې څۀ وو

خبره یې دَ شو نېو سر له راغله وهٔ یې نهٔ وې
بېګاه چې خدائے خبر دے دَ جانان په زړهٔ کښې څۀ وو

زما دَ روح په زخم یې دَ اور پټے کوله
وژله یې نورې دَ درمان په زړهٔ کښې څۀ وو

دا نن چې تندرونه دَ ادا راوارَولے ئې
دَ بنګلې دَ نازونو دَ اسمان په زړهٔ کښې څۀ وو

Pukhto.Net

دَ مینې دَ رنګینې جوارې په ټیکرې ناست وومٍ
والله که مې دَ سود او یا دَ زیان په زړه کښې خیال ووُ

دریابه دَ پرېشانو زلفو خوګې ئې چپې لې
ولاړ وو اُپسې ته دَ حیران په زړه کښې خیال ووُ

نېټه :- ۲۰ دسمبر ۲۰۰۱ء
شګی

Pukhto.Net

*

* * *

*

Pukhto.Net

سم دَ سحره مې دا زړهٔ په زړهٔ کښې ځکه نشته
چې مې دَ روح لاله زارونو کښې لوګه نشته

دَ بېګانې بوسو اثر زما مني او کنه
نن دې په څنګ باندې اشنا يوه ځوانکه نشته

خدايه بښنې به مې په کوم ځائے کښې ما او نه وړنې
زما په کلي کښې خو يو ګروزے زمکه نشته

ما ته وړه لوړکۍ ژړېږي دَ څو مياشتو راسې
ماله ښېنزکه واخله ما سره ښېنزکه نشته

هاغه چې موږ به پرې مابنام له سېر اوړه ګټله
اوس هاغه خوند د مزدورۍ د ټکه پکه نشته

وې ملغلرې د دریابونو کښې منمه دې خو
ستا د دریاب سره د یوې کوړې ګنجکه نشته

نېټه: ۲۰، دسمبر ۲۰۰۱ء
شګی

Pukhto.Net

*

* * *

*

Pukhto.Net

ستړګې که وختونو په ماسرې کړلې
ما هم په وختونو ستړګې سرې کړلې

تاچې ستړګې تورې شونډې سرې کړلې
ما له دې جذبې ارې ارې کړلې

څه دَ ځان ځانۍ هوا را الوتې ده
شارې ئې دَ هر کلي ځجرې کړلې

فرق په عقیدت او عقیده کښې شته
ورانې بې ادبو هدیرې کړلې

ستا دَ تغافل اورونو اوسومه
باد مې دَ ارمان په سر ايرې کړلې

ما وړلے مرګ نشي ژوندے يمه
هسې افواګانې تا خورې کړلې

دا دريابه زهٔ څومره بد مرغه يم
ژوند په ويښو سرې زما اسرې کړلې

نښته۱-۲۰ دسمبر۱
شګې

* * *

Pukhto.Net

دَ بندګۍ له قیده اووتمه
که دَ خودۍ له قیده اووتمه

ما دَ رسمونو زولنې ماتې کړې
دَ غلامۍ له قیده اووتمه

مینې هستې راته را اوبخښله
اوس دَ نیستۍ له قیده اووتمه

که ته مې هېره کړې نو اوګڼه چې
دَ زندګۍ له قیده اووتمه

Pukhto.Net

دَ سر لوړې معراج ته ورسېدم
دَ سر کوزې له قېده ووتمه

دریاب به بنګېل کړمه سور و دَ پېښې
چې دَ ځوانۍ له قېده ووتمه

*
* * *
*

Pukhto.Net

ائینه لاسو کښې قربان مهٔ اخله
زما د صبر امتحان مهٔ اخله

مات که بنګړي دې شو نو کړې داسې
بنګلي بدله مې د ګریوان مهٔ اخله

خدایه زما که سوې زړهٔ ته ګورې
نو بل د هیچا نه جانان مهٔ اخله

بې ملازې ترې خاورې ډېرې بنهٔ دي
د ملازې سره آسمان مهٔ اخله

Pukhto.Net

دَ بنګلا بُته نور مې لښ څه واخله
خو ما نه ایکې یو ایمان مه اخله

ګوره سبا بېګاه مو ستړګې لګې
دَ یو نظر دومره تاوان مه اخله

دریابه خوند له اجارو نه اخله
یو پټې چړې تورېان مه اخله

نښته، ۲۲ دسمبر ۲۰۰۱ء
شکې

* * *

Pukhto.Net

سزا سزا ده د تعزیر لاره ده
د محبت لاره د ویر لاره ده

د ښکلاګانو د نیلم غېږې ته
زړه د اورونو په کشمیر لاره ده

مونږ لېونې پرې خپل مرام ته رسو
مونږ چې نیولې د زنځیر لاره ده

د خواهشونو د تکمیل کلي ته
شته خو په مړې د ضمیر لاره ده

دریابه خوک چې دې وجودنه مني
ستا هم د هغو په جاګیر لاره ده

نېټه: ۲۳، دسمبر ۲۰۰۱ء
شکی

Pukhto.Net

دځان نه لاړم که دځان پورې را اورسېدم
د یو نیمګړي اطمینان پورې را اورسېدم

د الزامونو اسمانونه مې د ځینو لاندې کړه
ستا د بنائست د لا مکان پورې را اورسېدم

ما د ضمیر د سودا سوچ قدرې هم اونکړو
څه که د ژوند د لوټ تاوان پورې را اورسېدم

زه د فطرت مجبوره سم نه شومه وران شومه لا
که صحیفو نه د قران پورې را اورسېدم

په ځان به لوبې تندې هر څه تېر ووم دریابه
خو چې د کلي د جانان پورې را اورسېدم

نېټه ۲۴، دسمبر ۲۰۰۱ء
شګی

Pukhto.Net

زما ړنګ ځلي له څوک نهٔ راوړي په هېره ډېوې
نو ډګني تو له هډيره کښې دې چاپېره ډېوې

سم دَ ما بښامه به مې ستورې ځنګ ته راغله اشنا
مونږ ستا په ياد کښې بلولې به تر ډېره ډېوې

خدايه چې خونې پرې زمونږه دَ زړګو رڼا وې
په محلو نو داسې تل لره بې شمېره ډېوې

ځُنې چې نمر ونه ورله راوړو له آسمانه ځنې
ملګرو څو پورې به مونږ غواړو له غېره ډېوې

دريابه مونږ به پرې دَ خپل مرام تر غېږې رسو
زمونږ په فکر کښې روښانه دې له خېره ډېوې

نېته، ۲۵، دسمبر ۲۰۰۱ء
شاکی

Pukhto.Net

دَ ارمان ناوې مې ولوړ غواړي
دَ بڼوکو نه سمندر غواړي

هر څوک ترې هر څۀ اخستلے شي
نظريه هم کوږې نظر غواړي

دَ زړګي کند مې روړ بدلې اشنا
دَ ښائستونو نه استر غواړي

بې وسې دومره بې باوره کړمه
زما بچي مانه باوَر غواړي

Pukhto.Net

ښکلیه بیا راباندې خلق اودرې
سترګې دې بیا ګواښنې شړغوړې

دریاب به نن ورله راوړمه څمه
د محرومۍ دا شپه سحر غواړي

نېټه: ۲۵ دسمبر ۲۰۰۱ء
شکه

Pukhto.Net

*
* * *
*

زهٔ خپله پښېمان شومه پښېمان مخې ته راغ
زما نه پټېدلو خو جانان مخې ته راغ

فرار دَ افغانانو په تاريخ کښې نشته ګُله
پُلوُ ورسره خدايګو که آسمان مخې ته راغ

ما جړه په کائناتو کښې دَ شر لټوُو تلمه
په هر ډګر چې راغلمه انسان مخې ته راغ

هغه وه چې يُ ځان وو سنبال کړې چړته تلله
ماوې که دَ رنګونو کهکشان مخې ته راغ

Pukhto.Net

راستون ئې مېخانې ته کړم موږ څه لته کښې شو پاتې
کړنګا مې د جام واورېده شېطان مخې ته راغ

ویل وې چې خانه اوس خو هر یو سړې خان دے
پرون راله زمونږ د کلي خان مخې ته راغ

دریاب په غور ځنګونو بې نیازه یم له هر څهٔ
که غر راته راځي که بیابان مخې ته راغ

نېټه: ۲۶، دسمبر ۲۰۰۱ء
شګه

* * *

Pukhto.Net

اشکي مي تندر خو قضا راولي
ولي خندا دې ماکښې ساه راولي

بيا به ايمان درته معلوم شي زما
خداے به دې چرته کښې په ما راولي

پښتو نولي پرې څومره جبر کوي
زما رقيب ما پسې ورا راولي

زه درته ښه کوم ته نه کوې تل
شر به زمونږ يو ځلې دا راولي

Pukhto.Net

منه ئې مه خو تورتمونو واورئ
زما فکرونه به دنیا راولي

چې دَ پښتو سره پښتون ئې کوي
دریابه ماله خو ژړا راولي

Pukhto.Net

*

* * *

*

ما دَ قسمت دَ کرښو غلا اوکړه
مینه مې ستا سره اشنا اوکړه

عشقه چې څه بلا ئې نه پوهېږم
هغه چې نه وو تا په ما اوکړه

اوس مې جنون جوبن ته اورسېدو
چې په ژړا کښې مې خندا اوکړه

چا په وطن باندې سرونه کېښوده
چا دَ سرونه ئې سودا اوکړه

Pukhto.Net

ښکاره چې ما ئې ښکلول خالونه
ستورو زمونږ ځنې حیا اوکړه

انسانیت معراج ته اورسېدو
انسان په مړو هم ګډا اوکړه

دریابه تاته مې ښېرې کولې
خو په غلطۍ کښې مې دعا اوکړه

Pukhto.Net

څنګ به مانه په ښکليه سوال نهٔ څي
ستا نه چې نشه د تغافل نهٔ څي

دا د نړۍ زغل دے پښتنو ګورئ
منډه کړئ په دې کښې څوک په تول نهٔ څي

نمر ئې د جبين راپرخولے دے
څکه خو تيارې ئې د کاکل نهٔ څي

نن مې ليدو رنګ ئې ورولو تلو
چا ويل چې ښې نهٔ لرې کمل نهٔ څي

Pukhto.Net

سر مې د رقیب نه د سپي جوړ کړو خو
بیا هم غاړې غاړې نامعقول نه ځي

څه چې څو د زړه ډیوه په لاسو کښي
څو پورې دریابه به دا زول نه ځي

نېټه: ۳۱ دسمبر ۲۰۰۱ء
(اکوړې ته په لار)

*

* * *

*

Pukhto.Net

دا زما دَ پېغلې وَل دے دا زما دَ دیارِ بام دے
ستا دَ سترګو په کږو کښې برند غرور ته مې سلام دے

ما نه څه غواړې وختو نه تقدس دَ روایاتو
چې ګناه ګڼاه ژوندون مې عبارت دَ نیو الزام دے

ما په ځانے دَ سرو ګلونو، ستا تالا والا اوربل له
غنې راوړې، ازغې راوړه دا دَ سور سپرلي انعام دے

څه چې خولې مونږ سره ورکړو په کړنګا کښې دَ جامونو
دا دَ ژوند نه لږه تېښته هم دَ وخت نه انتقام دے

دا وېښته نرۍ ملاګانې دا دَ ترکو اتڼونه
ستا سو ګلے خو دریابه نن پښانتې دَ باګرام دے

Pukhto.Net

ماته زما د پوهې بود اونه شو
ماته ادراک د خپل وجود اونه شو

د عبث په تاوانې سودا کښې
چاته د یوې کاسیرې سود اونه شو

زما د روح د زخم شونې علاج
تا نه کولو ځکه خود اونه شو

مینې وې دانګه اورته اومې دانګل
یو ذره مانه تردد اونه شو

دریاب ئې اوربهلو اوشرو خو
ذره د آیاز نه د محمود اونه شو

نېټه: ۵، جنوري ۲۰۰۲ء
شګې

Pukito.Net

په يو کهاله کښې ستړ کوې څهٔ اولسولې
ځوانۍ درته څهٔ اووې کنه زړهٔ اولسولې

په خدائے که دَ بل هيچا نه مې سترګ سوزيږه خو
بې رحمه ګرد شو نو راته تهٔ اولسولې

زما ښکلي پيغلې اوښکې نهٔ وتې له کوره
ښکاريږي مجبوره مې دَ ليمهٔ اولسولې

نظر چې دې ساهو ساده معصوم وو کتېدنه
زما بد قسمتۍ ته ګوره دهٔ اولسولې

دريابه تا خو واورو کښې غاړه نهٔ ده راکړې
دا نن څنګه دَ څو پرکو سارهٔ اولسولې

نېټه ۱۶، جنوري ۲۰۰۲ء

شګی

Pukhto.Net

Pukhto.Net

دا لاچا وی چې د تا پښتان سپوږمۍ ده
ستا په وړانـدې سپوږمۍ توره چنګښۍ ده

د احساس لاله زارونو کښې مې برق دے
څوک زما د روح په دښتو کښې مسکۍ ده

پښتو څکه په سر سترګو ګرځوومه
دا زما د تشخص د ناز پګړۍ ده

ستا د سترګو کږ لیچو نه څکه څېږم
پکښې سپینه رڼه لار د ژوندګۍ ده

دَمعاش دَ کشالو په جرنده دَل یو

دا په مونږ ده چې سایه دَ محرومۍ ده

دا چې خپل تهذیب او ژبې ته کوزګوري

دا دریابه انتها د بې حسۍ ده

نېټه ۱۰، جنوري ۲۰۰۲،

شګې

Pukhto.Net

*

* * *

*

Pukhto.Net

دا ژوند څومره بې ژونده دے لږ ژوند پکښې پيدا کړه
څه! او خاندهٔ يو څو څاڅکي د خوند پکښې پيدا کړه

خښتنه چې د ګړدو يوسفزو د زړهٔ آواز شي
بيا کوم غونډۍ بناغلے نر فرزند پکښې پيدا کړه

زړګيه د حالاتو په جنګ ږ کښې روسته نشي
وختونه زهر زهر دي خو قند پکښې پيدا کړه

پره په پښتو ښخو اشه د تحقيق ډيوه په لاس
څه! او ګرځه کامل غونډۍ مومند پکښې پيدا کړه

دریابه دَ پښتو په مطالبو کښې اَثر له
ښکلوالے دَ شیراز او دَ خجند پکښې پیدا کړه

دریابه دَ جدت نزاکتونه په غزلے کښې
دَ نوؤ تجرباتو په اړوند پکښې پیدا کړه

نیټه: ۹، جنوري ۲۰۰۲ء
شالکوټ

Pukhto.Net

*
* * *
*

Pukhto.Net

جوړوم د زړه په وينو په ګلونو تصويرونه
ستا د اداګانو د نازونو تصويرونه

عکاس زما د سوي لوي ژوند دي د دردونو
د وير په رنګ لړلي د غمونو تصويرونه

بوږنېږمه د ذهن په پرده چې مې راواوړي
د مينې د جنون د تېر وختونو تصويرونه

ما تل پټ خپلو خلو ژړوي په چغو چغو
زما د ځواني مړګو حسرتونو تصويرونه

اُ ما دَ مختلفو زاوېـو نه اخستلې
پراته دي ما سره ستا په سلګونو تصويرونه

پرون ئې ستا په تور باندې درياب د ګې په دار کړې
زورند دي ستا په ښار کښې په څوکونو تصويرونه

*

* * *

*

Pukhto.Net

لا خو تیارې برندې دي نمر چرته دے
لا خو په موږ شپه ده سحر چرته دے

کاڼے نمر یو کس په تنه ایښے دے
دلته کښې په چا پورې سر چرته دے

موږ دَ ځان مرګ غواړو که کرشمه وي
موږ کښې سوچ دَ قام دَ نمر چرته دے

تل مو دَ جذباتو بهیرونه وړي
پوهه زموږ کوم ده نظر چرته دے

Pukhto.Net

لوبه دَ مرګونو موسرهٔ کړې ده
قدر دَ شر شته دَ بشر ځرته دے

مونږ که غلهٔ ښخپله باندې نهٔ يو نو
بيا زمونږ دَ خپل کمالهٔ ور ځرته دے

مونږ خو لا دريابه ښخپل ځان کښې يو
مونږ کښې لا ادراک دَ بهر ځرته دے

نېټه ۱۰ جنوري ۲۰۰۲ء
(پېښور ته په لار)

* * *

Pukhto.Net

تهٔ لا په لاره وې راتلې اووتې
دَ روح له کوره مې تيارې اووتې

خدايه! دَ مخې کال سوب مې اوکړې
سږ کال بيا واورې واورې شپې اووتې

تا چې جوړه لاسونه کېښوه په ما
دَ رقيبانو نه بنهې اووتې

دَ مغربي تهذيب بربنډ يرغله
دَ انسانانو نه جامې اووتې

Pukhto.Net

دَ ژوند دوزخه دَ روزګار تکله
دَ ډېرو بنــو زلمو لښې اووتې

دریابه بیا په افغانانو خپله
دَ افغانانو نه تسې اووتې

نېټه: ۱۲م جنوري ۲۰۰۲م
ښکې

Pakhto.Net

*
* * *
*

بس کړې زما ، ستا په ځنځیر تړل نشي کېدے
بغېر زما دَ تللو تړي بل وړاندې نشي کېدے

زه ستا دَ فرښتو سترګو په تور باندې شهید شوم
مړګے له دې نه ښکلے او غوره نشي کېدے

په ما دَ ښائستونو ښاپېرۍ بلسي رابلسي
زما نه خو دَ نور صبر تعویز نشي کېدے

راغونډه چې پرې چې دَ آدم واره دَ نړۍ شي
دَ دغسې یو لارې خط تجویز نشي کېدے

Pukhto-Net

هغه چې پښتنو مېندو وې کلک واړه تر لې
هغه ځکې هېڅکله د لوېدېز نشي کېدے

دریاب خو په لکونو هم لاس نه نیسي د ښکلو
رقیبه ستا د زړه نه خو انېز نشي کېدے

نېټه: ۱۳، جنورۍ ۲۰۰۲ء
شګی

Pakhto.Net

*
* * *
*

ګټو که بېلو پېکې دانه ګورو
مونږ ټيکرۍ د مينې ته درانه ګورو

دراغلو! چې زلفې دې داړو نه کړل
مونږه لېونې خو بهانه ګورو

پس له دې به مونږه ترقي کوو
پس له دې چې مونږه زمانه ګورو

دا د يووشتمې صدۍ راکړه ده
ګورو نارينه خو زنانه ګورو

Pukhto.Net

مونږ دَ خپلو سترګو ځوانو کړکه کوؤ
مونږ چې دَ ځُانونو آئینه ګورو

نهٔ ګورو دریابه وړاندې نهٔ ګورو
مونږ هٔ تل تر تله پسته ګورو

نهٔ ټه ۱۳، جنوري ۲۰۰۲ء
شکئی

Pukhto.Net

*
* * *
*

عشق زما کول پړي حق دے
چې ښائُست ترېنه مشتق دے

دَ پښتو په ښونځائے کښې
ما دَ ننګ وېلے سبق دے

چې دَ حسد پرې ښېږي
دَ رقیب په خوله تبق دے

سپوږمۍ زمکې ته راغلې
کنه ستا دَ حُسن برق دے

Pukhto.Net

رنګ دې اخلي د سالو نه
که شفق دے که اُفق دے

رنګا کانې ئې خوب وينې
چې درياب په چا عاشق دے

نښته: ۱۵ رجنوري ۲۰۰۲ء
شکئ

*
* * *
*

Pukhto.Net

غوښتې دومره جرګه په اسانه فاصلې
زمانه خو لا مانه نشته پرېوانه فاصلې

مرام درته پرانستې غېږ ولاړ دے خو زړګيه
حرکت غواړي لنډېږي نه له ځانه فاصلې

هغه زما د برېتو ښخېدې وينې ځوانې وه
هغه چې بوږنېدلې به زمانه فاصلې

دَ اور سمند روانه که تر منځه شي درځم به
زما لاره نيوې نشي جانانه فاصلې

Pukhto.Net

مونږ وارۀ چې يوه وينه يُو دَ يو آدم بچي يُو
نو بيا پکښې له کومې مسلمانه فاصلې

هغه زۀ ستا په غېږه کښې په خوب کښې لوېدمه
ما وې چې خنګه نن شوې مهربانه فاصلې

دریابه دَ نهر مخې يارنه لرې لرې بسه يُ
پرېږدې چې ساقي نه دَ رڼا نه فاصلې

نېټه ۱۷، جنوري ۲۰۰۲ء

شګې

* * *

Pukhto.Net

پوهې نه شوم تر دې د زندګۍ په کږ لېچونو
ما ماته په سودا کړه ککرۍ په کږ لېچونو

د ګډو رمه وړاندې ورپسې پرې لېونې ده
را اوړي په پېچومي د غونډۍ په کږ لېچونو

زړه څېر ورته له هرې زاويې نه شوم په غور
ذره هم خبر نه شوم د هستۍ په کږ لېچونو

حيرانه مشاطه ورته زړګيه د فطرت شوه
هغې څه داسې جوړې کړې کمسې په کږ لېچونو

ولاړ یمه دَ ذات دَ آئینې په وړاندې ورک یم
ګړه شوی یم دَ ځان دَ حیرانۍ په کږ لیچونو

دریابه دَ پر کاله سترګو ښکلې اللّٰه هو وه
زهٔ تلمه که به ورمه پریشانۍ په کږ لیچونو

نېټه ۱۸ جنوري ۲۰۰۲ء

شګی

Pukhto.Net

*

* * *

*

دَ ربنې زلفو دَ نرم تاله پرېږنه وو ځم
چرته دَ سپینې شنوګۍ له خیاله پرېږنه وو ځم

خدایه له برمه مې پرېباسه مه زاړه هلوکې
چې دَ ربنتو دَ خېر غوښتو دَ سواله پرېږنه وو ځم

زهٔ دَ ماضي په مړي نه ژاړم خو ژاړم په دې
چې مستقبل کښې دې خپله حاله پرېږنه وو ځم

دَ نوم ورکې دَ تاترین ژوري اوبه مې خوري
ستا دَ جبین دَ لوړ آیلم له خاله پرېږنه وو ځم

دریابه خدائے دې توان دَ خس ماله هم نه راکوي
چرته په سترګو په لیمو کښې چاد پرېږنه وو ځم

نښته، ۱۹، جنوري ۲۰۰۲ء
شګه

Pukhto.Net

زۀ لا د خپل وجود په زمکه يمه
خو د هستۍ نه بې درکه يمه

مسته د ځان سره خبرې کوې
وائې سپوږمۍ يمه او زمکه يمه

چې د بې قدرو په ولقه کښې يمه
زۀ که کوهِ يم خو کنجکه يمه

لاس مې د ملا نه په زور مۀ تاووه
د بنګړو بار ګورې هلکه يمه

دريابه مينه له قلم سره کوم
کرکه کوونکې له ټوپکه يمه

نېټه ۱۹، جنورې ۲۰۰۲ء
شنګۍ

Pukhto.Net

لکه خوشبو هسې پرېشانه ګرځې
چې مروره شي له مانه ګرځې

بیا لرې وتې وې سرې له ځانه
څو چې سرې له خپله ځانه ګرځې

اور اورکې په کشمالو کښې نیسې
په ماښامونو کښې نادانه ګرځې

خکې به له سترګو مې شېبې شي مه ځه
ګودې ورېځې د بېګاه نه ګرځې

Pukhto.Net

زاهده ته وائې چې مینا، پرېږده
خوک به نو خندنه د ایمانه کړي

د محبت په جرم دوا ره وژنې
وختو نه مونږ پسې جانانه کړي

د کلي خلق ماته کوته نیسي
ځغې ته نه وائې چې ورانه کړي

تله خو فطرت دے د دریاب بنکلیه
نه چې د زول او له طوفانه کړي

*
* * *
*

Pukhto.Net

نېغ دَ مکان اوَ زمان اووتم
چې دَ فکرونو نه دَ ځان اووتم

قهرېږه مه خاطر دې مهٔ درنوه
دغه دے لاړمه قربان اووتم

چې سپین جبین ته ئې له زنې لاړم
ما وې که پورته له اسمان اووتم

کوم ده دَ ژوند په جوارګه کښې ګټه
هره لمحه ترې په تاوان اووتم

PukhtoNet

اوس خو زهٔ خان یمه دَ خپلې مرضۍ
اوس بېکارونو نه دَ خان اووتم

دَ مغربي اش سپېرهٔ يرغله
خپلو جامو نه هم انسان اووتم

ډېرې چېچې دَ الحاد راغلې په ما
شُکر دے زهٔ ترې مسلمان اووتم

دريابه نهٔ راتلم نظر کښې دَ چا
چې دَ نظر نه دَ جانان اووتم

*

* * *

*

Pukhto.Net

ژوند دَ زهرژنو لشو غېږه ده
دا دَ غنو غېږ دَ ازغو غېږه ده

مينه دَ خواهش دَسکون نوم نهٔ دے
دا خو دَ سېځلو جذبو غېږه ده

ذيل مې دَماشوم زړګي په ځاے دي چې
ستا دَ نظر غېږ دَ للو غېږه ده

غېږه دَ جانان ئې رانه هېره کړه
خومره دې نازکه ښېښتو غېږه ده

غېږ ئې دَ ښکلا تڼيو ته نهٔ شي تلے
تاؤ تړې دَ درياب دَ چپو غېږه ده

Pukhto.Net

Pukhto.Net

غلهٔ دې کوې غلا دَ هغو سترګو نه
رنګ دې که رڼا دَ هغو سترګو نه

یه! زاهده سل ځې کړې که زر ځې کړې
نه رغې زما دَ هغو سترګو نه

سیرې چې په نشه کښې شې رابندې شې
زهٔ ویرېږم ستا دَ هغو سترګو نه

کاڼې چوې سترګې دَ رقیب ورېږي
خدایٔ دې ساتي تا دَ هغو سترګو نه

زهٔ که ورکتے نشه کړم نهٔ یم
څوړې کړې حیا دَ هغو سترګو نه

تهٔ پکښې دریابه ژوندون ګورې خو
مړې څاڅې صفا دَ هغو سترګو نه

ښېته، ۳ر فروري ۲۰۰۲ر
شکی

*
* * *
*

Pukhto.Net

دا آخري ګناه کوم نوره توبه اوباسم
ستا سره هغه شان د داورۍ یوه شپه اوباسم

ذهن د نوي نسل اړوم د احساس په اېوه
د رڼا کړ پکښې کوم ترېنه تیاره اوباسم

د لاشعور رګو تېر نه ګورمه ماضي راسپړم
ستا د ترخو ترخو یادونو جنازه اوباسم

عقله منمه دي تا اوګټله بایلله ما
نور د جذبو لاسونه ستا د ګرېوانه اوباسم

یم د کوټلو حوصلو د غورځنګونو دریاب
لار د حالاتو د اور شېند کومې کښې زه اوباسم

نېټه: ۱۵، فرورۍ ۲۰۰۲

شګی

Pukhto.Net

څرګندونه دَ ځان نشم کوې
هسې توهين دَ انسان نشم کوې

خپله دَ خپلو برګو لاندې خورمه
زۀ سلامونه دَ خان نشم کوې

ما خو ضمير لا قتل کړے نۀ دے
سودا په سر دَ ايمان نشم کوې

دَ تندرونو نه مې ويره نشي
خو يارانه دَ آسمان نشم کوې

Pukhto.Net

دَ کړنګو نو نه ګذارېږي کړمه
نور اعتماد په جانان نشم کولې

ازاد فطرته يم درياب پابندې
زهٔ دَ مکان او زمان نشم کولې

نښته، ۱۷، فروري ۲۰۰۲،
شکې

Pukhto.Net

*
* * *
*

Pukhto.Net

موښ تل په زړهٔ دَ زخم کر کړے دے
موښ تل دَ دهر سره ښر کړے دے

موښه ځان نهٔ دے جوړېدو ته پرېښے
موښ په پرهر باندې پرهر کړے دے

موښ که وختونو قلم کړي يو خو
موښه هر ځلې نوے سر کړے دے

موښ ترې په ګوتو کښې ويستلې سترګې
چا چې په موښه کوږ نظر کړے دے

موږ د دردونو ھر کلي کړي دي
موږه په وینو کښي سفر کړے دے

موږ روایاتو ته دوام بخښلے
موږ په بمونو کښي اختر کړے دے

موږ نه دریابه غرونو تېښته کړې
موږ په اسمان پسې لښکر کړے دے

نېټه ۱۷ فروري ۲۰۰۲ء
شګه

* * *

Pukhto.Net

لمحه دَ سپوږمۍ پړوسنۍ شپه
نهٔ هېرېږي مانه لېونۍ شپه

څومره چې ادراک پکښې سحر ته ځي
دومره تیارهٔ کېږي دَ هستۍ شپه

خدایه دا پېرۍ مې ټوله واخله خو
راکړه ایکي یوه پرې دَ ځوانۍ شپه

مونږ پکښې دَ فکر ډیوې بلې کړې
اوس به شي په شا دَ محرومۍ شپه

Pakhto.Net

چا ویل چې شپه جنت کښې نشته دے
ما خو پکښې ویسته بېګانۍ شپه

تا که په رباب حجره کښې تېره کړه
ما درته هم روڼ کړه په بلۍ شپه

بیا دریاب په راغله جدائي سره
بیا زما دَ غنی په یولۍ شپه

*
* * *
*

Pukhto.Net

Pukhto.Net

ښکلیه ما سره راغلې تلې مه جوړه وه
زما د زړه د کوډې نه کلې مه جوړه وه

خدا د ښکلا پرې تر قیامته کړې تمام د نړۍ
خدایه زما د ګلالي نه ښکلې مه جوړه وه

څه نه څه لږ څه پکښې خامخا پرېږده سړیه
فطرت د رایې همېشه را ښکلې مه جوړه وه

د شپې جامې نه ګرېنګوې د ورځې اړې تښې
ښځه د ځان نه راته سپینې سپېځلې مه جوړه وه

څېره يې ګوره ورته جاج اخله د ژوند د ښېښو
ځان د شو دو سوې مستو پو کې مه جوړه وه

دا ستا درياب د ګمنامۍ د مرګ قاتل سرے دے
ګرانه هوارې کړه په سرې ځلے مه جوړه وه

پښته ، ۲۲ ، فروري ۲۰۰۲ ،
شګې

Pukhto.Net

*
* * *
*

مینه مینه خو د کړې له شور اوره اووځي
لکه چې ساز د هنګامو د غرغره له شوره اووځي

د محبت چنګښې کړې دي تښتوي ښکلوتې
ګوره کم عقلې په غرمه کښې څوک د کوره اووځي

ستا د اورنګ جبر په بند کښې بې ګناه کبوتے
زما خوشحال زړګے به خنګ له رتنبوره اووځي

هاغه چې څوان به غور څونړې سر تور ترې نشو وے
اوس د هغه کهاله نه پښله په سر توره اووځي

Pukhto.Net

دَ نړیوال انسانیت علمبردارو واورئ
بدل به ستاسو خواته مخ واړه دَ توره بوره اووځي

ستا لونګین پانړې باهو پېزوان اوګې او نته
شعر کوم یې هسې نه چې دَ فوکلوره اووځي

دریابه ژبه مې له داسې وینا غوټه بنه دَه
چې پرې بې څرته شي سرې چې پرې دَ سوره اووځي

نېټه ۲۲، فروري ۲۰۰۲
شګه
(دلوې اختر ورځ)

***

Pukhto.Net

زړه کړه پکار ده هم هنر پکار دے
خو دغه هر څه له خوسر پکار دے

دَ انتقام طريقې نورې هم شته
نه چې دَ شر جواب په شر پکار دے

چې پرې بنګلو تو له ګلان اوکړم
زما يوه پوله دوتر پکار دے

دَ سر دَ سترګو نظر نهٔ دے نظر
دَ زړهٔ په سترګو کښې نظر پکار دے

Pukhto.Net

مونږ په خبرو ستورې نهٔ شو راوړے
مونږ له دَ ښې پوهې وزر پکار دے

چې دَ احساس دَ غرونو پاڅې څُنې
دَ بې حسۍ واورې له نمر پکار دے

اَمن پسندو له پکار دے اَمن
خو ترهٔ ګر له ترهٔ ګر پکار دے

دریابه مونږهٔ په فطرت مئين يُو
مونږ له نښتر، چينه او غر پکار دے

نېټه ۲۳ فروري ۲۰۰۲ء
شګه
(دَ لوئ اختر درېمه ورځ)

* * *

Pukhto.Net

نرګسیت نه چې انسان را اوځي
بیا ورته لاړې د آسمان را اوځي

زه چې د ذات په ائینه کښې ګورم
بلا خامې راته د ځان را اوځي

رقیبان مینې سره دي تړلي
ګرمي چې اولګي مچان را اوځي

دا ځل دې خامخا بوځم کلي ته
خو چې غوزان او انګړان را اوځي

کتونه سم وي آرولې نه وي
اوس چې چړې ته کله خان را اوځي

فرعونیت له نړۍ ورې په مخه
چې دریا بونه د ایمان را اوځي

نیټه ۱ ۲۶ فروري ۲۰۰۲ء
شګي

Pukhto.Net

*
* * *
*

Pukhto.Net

عقله دَ زړهٔ په کوڅه نهٔ ورځمه
نور دَ هغهٔ په کوڅه نهٔ ورځمه

دَ بدو کلي مې پړه کړه همه
چرته دَ بنهٔ په کوڅه نهٔ ورځمه

زما کوڅې بانديې دي هم نهٔ راځي
چې زهٔ ددهٔ په کوڅه نهٔ ورځمه

ځم به په ډاګه ډیکلې که ځمه
لکه دَ غلهٔ په کوڅه نهٔ ورځمه

لکه دَ بنار بنده کوڅه شومه زهٔ
دَ بل کهاله په کوڅه نهٔ ورځمه

دریابه نیغ په نیغه زړهٔ ته ځمه
زهٔ دَ لېمهٔ په کوڅه نهٔ ورځمه

Pukhto.Net

* * *

جوړه چې دې نن بله بانه کړله
دا خو دې په خدائے چې ښهٔ ونه کړله

تهٔ چې ورته ځې اینه ځې شوې
ځان ته دې حېرانه اینه کړله

وخته تقدس دې دَرشتو اوُسو
تا زمانه سازه زمانه کړله

څهٔ که حوادث پرې ماتوې غرونه
ما ورته هم اوسپنه سینه کړله

Pukhto.Net

جنګ مې د زړوندون ځنې اونه ګټو
هسې مې خرابه پرې خانه کړله

خله کړې زما د ورېن لوهې ګيله
ستا نه چې ځوانۍ جوړه نينه کړله

راغله که دريابه زما شوه نو څه
لاړله حالاتو زما نه کړله

*
* * *
*

Pukhto.Net

چا کاشناتو نه پرده پورته کړه
که تا د مخ نه لوپټه پورته کړه

د سپینې خولې خندا دې اور اوکړو
زما د زړهٔ نه دې لمبه پورته کړه

د چا د قتل اراده دې اوکړه
بیا دې په لاس کښې ائینه پورته کړه

نوم یې د ضبط راله پس بیاسلو
پېټې د ژوندې مې درانهٔ پورته کړه

Pukhto.Net

ستا زر زرې سترګو ته ټينګ نۀ شومه
پس له توبې نه مې پياله پوره کړه

ما دَ نفرت خلاف قدم په قدم
دَ محبت يوه نعره پوره کړه

درياب په روح ته مې سکون او رسيد
چا ګل ګټونو کښې تپه پوره کړه

*
* * *
*

Pukhto.Net

ستا دَ مینې په خوږو وږمې بهره ورشوم
که دریاب وومه جانانه سمندر شوم

ځان مې اوبائیلو دَ مینې جوارګه کښې
تهٔ مې اوګټلې ځکه سر په سر شوم

وخت هغه وو چې به چاته یادېدمه
اوس خو لا زۀ دَ یادونو راهګذر شوم

دَ هر کار دَ خوښې خوندونه مې خراب دي
دَ غمناکو شپو ویرژړغوندې سحر شوم

Pukhto.Net

دَ لاهوت دَ رڼاګانو په تکل کښې
دَ ناسوت دَ غار دَ کومې نه بهر شوم

ستا دَ خیال سنګ پارس چې مې حاصل کړو
اول هیڅ نه وومه اوس دَ زرو غر شوم

دَ ریا رنګونه څاڅي ترې دریابه
ددې دهر دَ یارانو مرور شوم

Pukhto.Net

*

* * *

*

دانګې ترخې مې دَ زړونه نبضونو اوکړې
چې کلي ستا دَ ننګو سرونو اوکړې

سوده پس مې رنګه پنګه غېږ ته راغله
غزونې زما مړو رګونو اوکړې

دَ دردونو په صحرا کښې ئې پړه کړم
تجربې رابانده ښه وختونو اوکړې

جوړ مې زوږ په لاشعور کښې دَ ماضي شو
لمغړې دې بیا تنګو یادونو اوکړې

Pukhto.Net

لونګین نه ئې ګرېوان پورې اځنه رم
ما مـزلې دَ بلها کلـوذۍ اوکړې

اوس به چرته هم بد رنګ دریآبه نشې
دعاګانې درته سرو لاسـونو اوکړې

*

* * *

*

Pukhto-Net

Pukhto.Net

ستا دَ انکار جواب ته پاتې نهٔ شوم
ښهٔ شوه چې دې عذاب ته پاتې نهٔ شوم

ستا مینې نیغ جنت ته راوستمه
دَ فرشتو حساب ته پاتې نهٔ شوم

دَ سر لوړې معراج ته اورسېدم
دَ سرکوزې آداب ته پاتې نهٔ شوم

ځان مې حلال کړو دَ ارمان په چړه
خو دَ دستور قصاب ته پاتې نهٔ شوم

دَ فرشتو اُستاد ته پاتې شومه
ګرانه منبر محراب ته پاتې نهٔ شوم

دَ ملاکنډ په سر ئې چغې کړلې
دَ ملاکنډ دریاب ته پاتې نهٔ شوم

Pukhto.Net

*

* * *

*

Pukhto.Net

دَ کلي سترګي دي را واړولي
چي ښکلي سترګي دي را واړولي

څنګه به زهٔ لېونے کېږمه نه
پاکلي سترګي دي را واړولي

تا وي چي سترګي به دروانهٔ ړوم
بیا ولي سترګي دي را واړولي

ښکلي دَ خلقو سترګي نهٔ ژاړمه
خو خپلي سترګي دي را واړولي

رقیبه مونږه دَ نظره نهٔ کړې
شړلې سترګې دې راواړولې

په دریابونو دې لمبې بلې کړې
چې بلې سترګې دې راواړولې

چکیس

*
* * *
*

Pukhto.Net

تاچې دَ خپل رانګ خبره ګوښلکه اوکړه
ما سره ستړې انتظار سمجوته څکه اوکړه

دغه په پسکې کښې ترلې څو دانې دَ امید
ورم دَ ارمان بچو له ننه مې تښکه پکه اوکړه

زهٔ هسې سپک کړم ستا دَ شوخې مینې شوخې ګناه
چې زما ذات هم مانه په جانانه کړکه اوکړه

دَ مار ګلې په کنډو پروت پېزوانې نهٔ ورنبودم
څکه مې ګلې ته بيا مخه له اتکه اوکړه

Pukhto.Net

دَ گل په برخه دَ نسیم په غېږ کښې ځے اووینځه
راشه دَ گلي دَ قطرې ژوندون نه څکه اوکړه

ما چې دې شونډو ته کړې غوټې غوټې شونډې نږدې
تا دَ زخمي هوسۍ پشان ترپکه اوکړه

تا دَ دریاب دَ ژوند موره کړله سپړه رقیبه
راغلې بابر غوندې دې دلته مبارکه اوکړه

Pakhto.Net

*

* * *

*

دَ بنګلو په سینو کښې که دي زړونه کاڼي کاڼي
نو مونږه ګوري هم يي غرونه کاڼي کاڼي

څه هغه قسمتونه دي چې کاڼي جوړوي ئ
څه مونږ يي چې زمونږ دي قسمتونه کاڼي کاڼي

زړګیه دومره هم مایوسه کېږه مه دَ بنګلو
توکي هم کله سره ګلونه کاڼي کاڼي

دَ څنو دَ قبرونو خو خزې دَ کاڼي نهُ وي
دَ څنو دَ مرمرو مزارونه کاڼي کاڼي

Pukhto.Net

په ما باندې څښې زهر د ترخو حقيقتونو
دا غوټې غوټې ژوند او دا وختونه کاڼي کاڼي

دريابه جوړ زما سنګسارولو له راغلي
دا خلق ګټه ګونه دا لاسونه کاڼي کاڼي

(د ملګري اقبال شاکر په اټکنې ليکلے غزل)

چکيس

*

* * *

*

Pukhto.Net

خوار په رېښمو تندرونه ترم
بشکلیه څې ستانه نظرونه ترم

د زړه زخمونو مې اوبه څښې کړې
غواړې د شونډو ټکورونه ترم

ګل منجرې دې د الفت فصلونه
زه ترې ګېډې ګېډې غمونه ترم

د خپل احساس د خوشبوېو په مزې
ستا د ښايست ننداکتونه ترم

بې د ګور ګورو دے تږه شه پکښې
زه دې په ګوږ اوربل ګلونه ترم

Pukhto.Net

دَ خپل سالونه راله پسکے راکړه
زهٔ پرې دَ خوږ زړهٔ پرهرونه تړم

چې دَ ښکلا ونې میوې اونیسي
زهٔ به ترې څرنګې لاسونه تړم

رباب به روسته سوزُوم دَمینې
لا خو دریابه پرې تارونه تړم

*

* * *

*

Pukhto.Net

که انتظار راته غبلي شپه ده
ما په لېمو کښې ګرځولې شپه ده

دا تا په زلفو کښې تړلې شپه ده
ما وې رڼې ولې څڅېدلې شپه ده

ورځ مې لېمه څکه نن خوړې د ورځې
بېګاه مې ټوله شپه خوړلې شپه ده

ستا د خالونو ستورو غسل اووېست
په ما د قدر نازولې شپه ده

د لوند اوربل څاڅکې ئې اوکړه په ما
وېښل ئې پاسه کنه تللې شپه ده

Pukhto.Net

نن دې په سترګو ښکلو ومه سترګې
نن مې په عمر کښې موندلې شپه ده

ستا د رنګین ګریوان په رنګ کښې ډوب یم
څه لونګینه شپه ده ښکلې شپه ده

زما د شونډو پاره په شونډو لړ کړه
ځار په نصیب باندې راغلې شپه ده

زما جنته ستا نه څه اوتروم
نن مې د تا د ډاک په ګلې شپه ده

اوس به دریابه شي سحر که خبرې
اوس مې ایله راپېرزولې شپه ده

* * *

چې دَ نسیم په کومنځُ سس اَړوي
ښنګ به نظر ترېنه نظر اړوي

زۀ به ترې واوړمه خویه ملګرو
مانه به څوک هغه کافر اړوي

خوله مې زړګے غواړي له شوخې مینې
څه زورور دے ما په شر اړوي

شبۀ په جار وېمه چې مسُین یمه پرې
رقیب مې څۀ دَ لارې خر اړوي

مینې دَځړیکو په ښکګ اوترلم
اوس مې دَ درد په سمندر اړوي

Pukhto.Net

دَ محبت لېوني خپل وختونه
دَ زولنو په شَنَهَر اړوي

داسې دانه وانه ګودر ته مهٔ ځه
خوږکې دَ شوخۍ دَ مازيګر اړوي

دَ نظر تېغ دې راته مهٔ برجوه
دَ ژوند دَ تېغ نه مې جوهر اړوي

دَ زخم کړ پېکنې دريابه کوي
ښکلي زما دَ زړهٔ دوتر اړوي

* * *

Pukhto.Net

کله کله چې را یاده شي په شپه کښې
ترسماره مې د دردونو شي په زړه کښې

چې د بنګلو د ستایلو حق ادا کړم
برکت مې دې خدای واچوي په خوله کښې

د بلې د کشمالو کو دې کښې ګوره
هسې نه چې څوک دې اووینې په وره کښې

څومره خوند به وو په تکنه غرمه کښې
هاغه مونږ چې به یو ځاے شو په چینه کښې

Pukhto.Net

نیم ورې له د چینې په ډوډه راشه
مخ ئې پټ کړو رو ئې اووې په تیاره کښې

دَ گل مخو طبیعتونه عجیبه دي
سړے نۀ پرېږدي دریابه په یوه کښې

چکېس

*

* * *

*

دَ شیشې په لاسونو به څه کړمه
په شیشه شیشه لاسونو کښې ئې ځښمه

زما سترګې صحرائي دَ تیارو شوې
ستا دیو نظر لیدو په طمعه طمعه

احاطه ئې په لفظونو چرته کېږي
ته چې راشې خنګه په خنګه شمه

ما دَ خدائے نه په تیارو کښې ده غوښتلې
خو له ئې زلفو کښې په پټه ځکه خورمه.

Pukhto.Net

هغه واورې واورې شپه مې نه هیرېږي
هغه تاچې وې سحر شو پرېږده څمه

په ژړا شوه څه! ویل ئې دریابه
زه چې دا ځلې د کلي نه راتلمه

چکیس

*
* * *
*

Pukhto.Net

Pukhto.Net

څومره چې تړې ځان ساتمه دومره پړې ور اوړمه
زهٔ دَ محبت دَ ازمونو په شر اوړمه

نور به دَ ښکلا کهکشانونه رابرڅېره کړم
والوتمه، لاړمه په بره په نمر اوړمه

بیا مې ښې پولې دَ معصومانو حسرتونو شوې
بیا دې دَ یادونو دَ سکروټو په غر اوړمه

دا خو زما یو زړګ کښې هم نهٔ راتلهٔ له سره چې
دومره به دَ ښکلو له چېړونه زر اوړمه

اودرېږ مه اُودرېږم غرېږو مې يوسي اوړاږم
زهٔ چې کله اوس په مازيګر په ګودر اُوړمه

هاغه په درومبي ځل چې مې ستا د تندي خال ښکلو
ما وې که د ژوند د تاترې په کمس اُوړمه

شور مې د بنګړو زړهٔ غورځوي کني نو اومنه
نوره خو دې زهٔ دريابه غېږې ته در اُوړمه

چکبس

* * *

Pukhto.Net

Pukhto.Net

نرګسيت ولې انسان کښې پروت دے
خو نه خو د بل سره احسان کښې پروت دے

دلته احساس د بل وګړي نشته
دلته کښې هر سړے په ځان کښې پروت دے

بدنام شو چغې وهي وائي خلق
واړه بدیت په مسلمان کښې پروت دے

د ملک وهنې قام وهنې فکر
په خان کښې پروت دے په دهقان کښې پروت دے

د خپل ماشوم زړهٔ درته څهٔ اووایم
دا لېونے خو په جانان کښې پروت دے

د تصوّر د سلسبیل په غاړه
زاهد په غېږه د غلمان کښې پروت دے

مونږه جامې د پرهرونو کړې
دریابه درد مو په درمان کښې پروت دے

نښتره، ۱، مارچ ۲۰۰۲ء
شګې

* * *

Pukhto-Net

چې بارانونه د سپرلي مات شي
په هره پوله کښې بنګړي مات شي

خان له غنم به دې باران اوکړي خو
خدايه زمونږه به غوړکي مات شي

په هغه کلو خو مې زړه غوښتي
چې د دښترونه تنکي مات شي

لونده شوم لاره ده ساده سړيه
پرېږده په سر به مې منګي مات شي

تنده دې داسې هرو ماته نشي
چې پکښې ځاځا تندې مات شي

پښتانه دغسې خواره واره دي
لکه د هاره چې غمې مات شي

هسې نړۍ ته پښتون څله وهو
آسمان به څنګ په تبرګې مات شي

رقیبه ماته چې مسکۍ شې هغه
په تا کښې ولې مرچکې مات شي

دریابه زړه ورته د حورو اوشي
چې په خندا کښې ئې ننګې مات شي

نېټه: ۳، مارچ ۲۰۰۲ء
چکېس شانګله

* * *

زۀ يمه چرته هلته تلۀ غواړم
لږ دَ خپل ځان سره ليدۀ غواړم

دَ اور بالۀ کمند دې لاسو کښې را
دَ مخ سپوږمۍ ته دې ختله غواړم

ستا دَ شوګين سلو وهلې يمه
ستا په توده غېږه کښې شپه غواړم

چې دَ باطن سينګار کوې ستې پکښې
ځانله يوه داسې اينه غواړم

چې په کردار کښې غزونې اوکړې
د داسې علم خوربدهٔ غواړم

ځکښې چې ځکښې تلمه ځان مې وژو
اوس يې قلار په مصلهٔ غواړم

دریابه خومره ترقي مې کړې
په کور پوره یم خو اوړهٔ غواړم

نبته ۵ مارچ ۲۰۰۲ء
چکېسر شانګله

Pukhto.Net

* * *

Pukhto.Net

دا چې په حال کښې پل په پل ژاړو
مونږ د ماضي په مړي تل ژاړو

ځان ته بخپله کشالې جوړوو
بیا څو د نوروته ئې حل ژاړو

فکر د خپل کهاله ذره نه کوو
خو همیشه به غم د بل ژاړو

نهرې نه ژاړو د ملک د ناوې
مونږ ئې تالا والا اوربل ژاړو

مونږ د شېر خان د سر سوداګړي ده
هسې د مکر په کار ګل زاړو

دریابه څنګه به منزل ته رسو
مونږ خو چې لږ او کړو مزل زاړو

نېټه: ۵ مارچ ۲۰۰۲ء
چکېسر

Pukhto.Net

*
* * *
*

کرۀ په تا کښې څوځم دا دَ ښېتو دي
چې هوسۍ ئې څو کاتۀ دي دَ زمرو دي

تقدس زر پرستۍ دَ رشتو او سو
که بابا دے که ادې دۀ دَ پیسو دي

نمر، سپوږمۍ، کهکشانونه، سیارې هم
چې جوهر لرې دَ یو څې دَ هغو دي

تل اَسمان وهې په تورو دَ خبرو
زما خلق دَ عمل نۀ دي دَ خولو دي

Pukhto.Net

نشته کوم دي که يې څوک تنه را اوښي
چې سر ونه يې ورپورې په تنو دي

پښتانه څوک لا د ځانه وتي نه دي
نور قامونه د اسمان نه په وتو دي

چې پښتنو ته سپک نظر کوي دریابه
علامې د پښتنو د ورکېدو دي

پښه ۱۶، مارچ ۲۰۰۲ء
چکېس شانګله

* * *

Pukhto.Net

لږ که په فکر کښې بدلون راولو
نو تللے ځان به د پښتون راولو

موږ که په ځان کښې اګاهي راوسته
موږ به د نن غږ ته پرون راولو

موږه چې یو کاږه لرګي په بار کښې
څه به په نورو کښې سمون راولو

څو چې ځانونه ستړي شوي نه وي
نو خام خیالي ده چې سکون راولو

Pukhto.Net

د تورتمونو خلاف جنګ به کوؤ
هله په ژوند به سباوُن راولو

دریابه ژوندلۀ به معیار اوچتو
ځان کښې جوهر که د فنون راولو

نېټه: ۶، مارچ ۲۰۰۲ء
چکېسر شانګله

*

* * *

*

پـه ويـنو کـبنې مې تـګ کـوؤ منـه لار مې وهـلـه
مرام تـه رسـیـدمـه او کـنـه لار مې وهـلـه

اول خو ناپوهي وه ما وې زه له ځانه ځمه
بیا پوهه شوم چې ځانته په ستنه لار مې وهله

یو وخت وو چې ځواني وه د ژوندون په ستغو غابنو
تلم چاق وومه له هر چا نه مېنه لار مې وهله

ستا غرۀ ته د ښکلا زما حیرانه تصوّر وو
که هر څومره مې لار وهله نه لار مې وهله

دریاب وومه د سر او پښو نښتوالي باوجود هم
منزل پله په دوؤ ومُ په سینه لار مې وهله

نېټه: ۶، مارچ ۲۰۰۲،
چکیسر

Pukhto.Net

کوڅې شو فولاد يو موږ غرونه اړو
حالاتو له به ستړکو کښې اورونه اړو

د سرو زرو فصلونه به را اوتو کئ که خېرې
ګيا يو پرې د نوي کهول ذهنونه اړو

پراته لا د قسمت رحم وکرم ته نه يو موږ
همت کوو زيار کښو يو تقديرونه اړو

احساس د انتقام له حرارت له درده اخلو
که زخم مو ورځې نو ترې پټونه اړو

Pukhto.Net

تاریخ ته به دې سترګې واړې پاتې شي زمونږه
چې مونږ په سمندر باندې اوسونه اړو

منم چې د ښکلا محل ته لار په ګکرو ده
خو مونږه لیونې به پرې ځانونه اړو

دریاب وجودونه مو د اوښکې نه سخت دي
تښونو د وختونو له مخونه اړو

نښته، ۷، مارچ ۲۰۰۲ء
چکیسر

* * *

محبت کښې مې زړګے اوبه اوبه کړو
خو تر اوسه پوهه نه شوم چې مې وُ کړو

څومره خوند به ئې اُف ماله راکولو
هاغه ما چې به ښه ښه او تا به نه کړو

مخکښې نه تللو د نيمې لارې ستون شو
بس په نه خبره څان ئې راته جه کړو

څو به مونږه په جذباتو لاهو کېږو
خدائے زده مونږ د ګکرو نه عقل څه کړو

Pukhto.Net

مجبوري مې په ضمير باندې پېښه کېښوه
ځان مې چا کړه په زور باندې مېلمهٔ کړو

ما چې نه کړلو زما دَ چا به نشي
ما ځيګر کړلو ما زړهٔ کړو ما ايمهٔ کړو

چې پاسته پاسته لاسونه ئې ترې تاؤ کړهٔ
دَ درياب ستړے وجود ئې برې دمه کړو

نېټه: ۷، مارچ ۲۰۰۲ء
چکيسر

Pakhto.Net

***

Pukhto.Net

جنون چې مې د ستغو تجربو نه تېروي
تکمیل ته مې د ذات د مرحلو نه تېروي

خرد مې ترې جار باسي کنې زه کله صبرېږم
جذبې مې د زخمیو زولنو نه تېروي

منه چې د باطن د سپېڅلتیا حقیقتونه
سړے په یو نظر د زمانو نه تېروي

شاید چې څه رازونه منکشف مې شي د ذات
ادراک مې د هستۍ د تماشو نه تېروي

د درد د مسلسل اذیتونو په اورونو
الفت مې د حالاتو د لمبو نه تېږوي

دریابه د بنګلا د نازولې جبر خار
مینې د هوش او پوهې نه تېږوي

نېټه: ۸، مارچ ۲۰۰۲،
چکیسر

*

* * *

*

Pukhto.Net

بنګلیه چې ځان دې مانه اوتښتو
دا خو دې ځان له ځانه اوتښتو

د سحر خېزه تبسم نه دې ځار
د عمر غرېو دې رانه اوتښتو

د پوهې زوره زور دې اوښودلو
خشم دې سم له خانه اوتښتو

شرنګ دې بنګړو له نیمه شپه کښې ورکړو
خوب دې زما جانانه اوتښتو

عامې دریاب هغې ته څه ښکاریږي
هوش یې د میان مُلا نه اوتښتو

۱۵ جون ۲۰۰۲ ء

شکیه

Pukhto.Net

په مسئله کښې مسئلې دي سرته چرته رسي
دَ ژوند بې سره کشالې دي سرته چرته رسي

لا مې دَ ذات دَ راپېښوتې کوړکې کلې ته
ماته زمانه فاصلې دي سرته چرته رسي

هاغه چې تلې ده پسې مې دَ وړوکې ارمان
دَ زيل دَ زهرو کلکلې دي سرته چرته رسي

دَ زړهٔ کهالهٔ ته دَ نظر په تاترو تېرېږم
څهٔ روح چېچونکې مرحلې دي سرته چرته رسي

Pukhto.Net

هره لحظه مې د ماضي د ياد په اورکښې نيسي
د قيامتونو سلسلې دي سرته چرته رسي

درياّبه زړهٔ د محبت په ستړو مهٔ ستړوه
دا زاره چاودې معاملې دې سرته چرته رسي

۱۷ر جون ۲۰۰۲ء
شګه

Pukhto.Net

*

* * *

*

تا که نامه دَ جدایۍ واخسته
دا دې ما لاس دَ ژوندګۍ واخسته

دَ وخت دَ جبر انتها ته ګوره
په څو شېکو ئې ملالۍ واخسته

تا چې مې څنګ دَ خورو لاسو اوګړو
دَ خپله ځانه مې غاړۍ واخسته

لکه ګېډۍ دَ ګلو پورته مې کړه
ما وې که غېږ کښې مې ګډۍ واخسته

Pukhto.Net

له بې وسۍ دومره را اوغورځېدم
دَ سپي دَ خولې نه مې ډوډۍ واخسته

دریابه دغه زندګي ده لاړه
څه دلبرۍ څه دلدارۍ واخسته

۱۸ر جون ۲۰۰۲ء
شکي

*

* * *

*

Pukhto.Net

Pukhto.Net

دَ غرهٔ په تړو کښې ګلونه تږي هغسې دي
زما دَ ذات تږي اړخونه تږي هغسې دي

سترګې په سترګو ښکلوم دَ يوې مودې راسې خو
بيا مې هم سوې نظرونه تږي هغسې دي

په ګړو کښې وينې څښې تنده ئې نهٔ ماتېږي
دَ ښاسُتونو اسمانونه تږي هغسې دي

دا سرسېن ذوقِ جمال مو يو ځائے نهٔ څښې اوبهٔ
ځکه مو جل وهلي زړونه تږي هغسې دي

ستا دَ ښائست سمندرونه په غورځنګ بهېږي
زما دَ عمر ارمانونه تږي هغسې دي

تندې دَ نورو تنده غرو ماتوي دریابه
ولې پخپله دریابونه تږي هغسې دي

۱۹ جون ۲۰۰۲ء
شاکر

Pukhto.Net

*
* * *
*

Pukhto.Net

زۀ لا دَ درد له کوره وتے نۀ یم
دَ خپل احساس له شوره وتے نۀ یم

دا چې شعور مې زړۀ کښې خارا چوي
جوړ دَ جنون له اوره وتے نۀ یم

مات شوے یمه ټوټې شوے به یم
خو دَ خپل چُرت له سُوره وتے نۀ یم

چې دَ رقیب جواب کولې نۀ شم
دومره خو هم له زوره وتے نۀ یم

خدایه چې ورک نشم د بنار ګڼه ګڼې
چرته له خپله کوره وتے نهٔ یم

دریابه اووتم قابو له ژوندهٔ
خو د الزام د توره وتے نهٔ یم

۲۰ جون ۲۰۰۲ء
شکی

Pukhto.Net

*
* * *
*

Pukhto.Net

دَ خپل ضميـر دَ شوره چرته لاړ شم
ددې کافر لښکوره چرته لاړ شم

مور مې پخپله غېږ کښې هم نهٔ پرېږدي
نو آخر خپله وروره چرته لاړ شم

روح ته مې اورسېدو اوسوزېدم
دَ محبت دَ اوره چرته لاړ شم

ړوند دَ سکون په يوه لحظه پسې شوم
وېم چې دَ خپله کوره چرته لاړ شم

دَ خدائے په چارو مې لاس نۀ رسيږي
دَ وخت دَ جور له زوره چرته لاړ شم

دريابه لاړ به شم له هرڅۀ نه خو
زۀ له قسمته سپوره چرته لاړ شم

۲۰، جون ۲۰۰۲ء
شکۍ

Pukhto.Net

*

* * *

*

دلته خو ګل ښهٔ دَ فطرت دَ سور جامې کړي دي
"چا دي چې ګل دَ پسرلي دَ اور جامې کړي دي"

تهٔ يې چې نهٔ مې يادوې چرته په هسره باندې
زهٔ يم چې ما دي دَ الزام دَ تور جامې کړي دي

په ګل کڅونو کښې پرکهاله خاموشي قتل شوه
اوس زما کلي هم دَ ښار دَ شور جامې کړي دي

دلته دَ هر څهٔ امکان شته دَ تهذيبونو جنګ دے
دا عجيبه نهٔ ده که ورور دَ خور جامې کړي دي

دريابه ما باندې دَ هرې صدمې قرض شته دے
نه چې اختر له مې دَ غم نه پور جامې کړي دي

۲۰ جون ۲۰۰۲ ء

شګه

Pukhto.Net

لیږي دَ روح مې ورته اوښکې
شراب دَ چا دَ نظرونو څاڅي

سره لوښته په ګلګون مخې رېږي
کنه رنګونه دَ رنګونو څاڅي

هسې ځان څله لوندوې سلګه دې
شبنمه ریا دې له مونږونو څاڅي

څانګې چې غبرګ منګې له نازه اوري
خور به دې څاڅکي په خالونو څاڅي

دریاب به دې توږي ښېرې دَ وخت
غم چې زمونږه له مخونو څاڅي

۲۱ جون ۲۰۰۲ء

شګي

Pukhto.Net

څو مره چې راښکون لري په سترګو کښې
دومره زړهٔ چاؤدون لري په سترګو کښې

زړهٔ دَ انتظار دَ شپې تيارهٔ يمه
تهٔ مې سباؤن لري په سترګو کښې

نن خو ئې ښځې شعر کوے نشم
نن هسې مضمون لري په سترګو کښې

مرګ که دې څڅېږي له کږو بڼو
ياره نو ژوندون لري په سترګو کښې

Pukhto-Net

زۀ دې دَ خپل ذات په غرونو سر کړمه
څۀ بنکلې جنون لرې په سترګو کښې

ما دریاب دمه کړه سترے شوے یم
تۀ سکون سکون لرې په سترګو کښې

۲۳ جون ۲۰۰۲ء
شګی

Pukhto.Net

*
* * *
*

Pukhto.Net

دریاب یمه په ظرف د ممکنات کښې نه راځم
فطرت مې د غور ځنګ د بخیل ذات کښې نه راځم

د مینې په تکرې باندې مې کتبه مقدر ده
زه داسې جوارګر یم چې بېلات کښې نه راځم

دا زه سپېره بدبخته یم تا نه کرموم ګله
دا ستا چې په نظر په التفات کښې نه راځم

بونیر او دیر ته اورمه په ژړو د لوړو غرونو
بنګلا د ملاکنډ یمه په سوات کښې نه راځم

دا ما وروکے کړے ځان ښخپله دے ملګرو
نور خوګکي زۀ په کائنات کښې نۀ راځم

دریابه دَ وجدان اودَ الهام نه رازېنزېږم
ستا شعر دَ اُورد په کېفیات کښې نۀ راځم

۲۴ جون ۲۰۰۲ء
شګې

Pukhto.Net

* * *

Pukhto.Net

زهٔ چې راتلمه لیونۍ زما نه نهٔ هېرېږي
ستا اجازت دَ ناخوالې زما نه نهٔ هېرېږي

اُ چې مې خواله کښمالو کښې پټه پټه راتلې
دَ خوشبوګانو بناپېرۍ زما نه نهٔ هېرېږي.

سر چې دې کښېښودو زما په سینه غلې شولې
خوله کښې دې اونیوه کمسۍ زما نه نهٔ هېرېږي

ستا دَ ملالو زر زرې سترګو نه سپینې اوښکې
راتلې بې واره په کوکې زما نه نهٔ هېرېږي

خدایه ددې نه چې راغلې نه وې
لکه په ما د لاړوې تېره شوه

د محبت سندره اوشوروه
دریابه برنده خاموشۍ تېره شوه

چکېس
اګست ۲۰۰۲ء

Pukhto.Net

*
* * *
*

دلته په هر لفظ مېخونه زمانو وهلي
ځکه مهرونه خوږه خولو باندې معنو وهلي

خدايه! باران دې چې د چا بلې ته اودرېږمه
زما د ګلي د هر کور غوږکي وېښو وهلي

موږ کښې دستار د شرافت هغه په سر تړي چې
چا چې سرونه بې ګناه وي له تښنو وهلي

زما د خلقو د پستۍ يوه وجه دغه هم ده
څوک د حسد په اور کښې سوي څوک کينو وهلي

موږ کښې به سوځ له کومې راشي او رڼا له کومې
موږ د بابا کاڼي په سر او په سینو وهلي

دا د تاریخ د جبر لویه المیه ده زموږ
چې پښتانه همېش غېله پښتنو وهلي

دریابه دا زما خیالونه د مستۍ کړېږي
کنه شراب د سلسبیل نه ډېر و وهلي

۲۲، اګست ۲۰۰۲ء
چکېس

* * *

Pukhto.Net

برنده خاموشي دي له بارانه پس
غږ بو مې څکه يوسي له ژړانه پس

دومره بې قدري د مينې مه کوه
دربه شي ارمان گورے زمانه پس

دا ستر گې به زه له ځانه اوباسم
دوئ که چاته اوکتل ستانه پس

ته خو زما روح ته کوزه شوې ئې
ژوند کښې به مې څوک راشي د تانه پس

Pukhto.Net

دغه دے عظمت دَ شر افت زما
زۀ چې شم پښېمانه دَ ګناه نه پس

ما خو وې دَ نن نه پس به نۀ رلځم
راغلمه څه ګورم دَ سبا نه پس

ښۀ وختونه رابه شي اُمید لره
ښار راځي دریابه دَ صحرا نه پس

۲۲ اګست ۲۰۰۲ء
چکېسر

Pukhto.Net

* * *

دَ کلي مېنځې کښې پخپل کور کښې سوزم
دَ تنهايي دَ شور په اور کښې سوزم

دَ روح لمبې مې له احساسه تاؤ دي
دَ ژوندانهٔ دَ نوم په تور کښې سوزم

پرهر پرهر دَ وخت سکروټو سوے
پولې پولې يم په تکور کښې سوزم

دَ خپل برباد محبت زيل اوخورم
دَ خپل برباد زړهٔ په پېغور کښې سوزم

زندګي لنې دريابه اوسېږم
ددې نه پسته به لاګور کښې سوزم

۲۳ء آگست ۲۰۰۲ء

چکيسر

Pukhto.Net

زهٔ چې څهٔ غواړمه نو هغه څه خونهٔ راکوئ
ماله سنګیا په ځائے هغه دَ کینه راکوي

ما په جنت کښې ځان دَ پاسه دَ مقتل لیدے
ماله به څوک زما دغه خوب معنه راکوي

ژوندهٔ ستا دا احسان په دواړو سترګو منمه چې
یوه حادثه راله غاړې ته بله سینه راکوي

ما نه جنګ ولې دَ تهذیب دَ بقا پاتې شولو
زما ضمیر ماله بېغور ماله طعنه راکوي

Pukhto.Net

دَ محبت دَ بڼ په غاړه مازیګر دے ناست یَو
پښېله لېږې لېږې خورې ماله نینه راکوي

دا دَ قدرت دَ وېښو ستم دے کنه جبر دَ وخت
تاله په لاسو کښې قلم ماله ریبنه راکوي

دریاب په تل چې ئې عطر ونه ورول به په ما
هم نن هغه راله دَ سرو تیلو پونه راکوي

۳۱ اګست ۲۰۰۲ء

چکیس

* * *

Pukhto.Net

زما په روح باندې راخوره رانه لرې مه ځه
زما دَ زړهٔ دَ درزا شوره رانه لرې مه ځه

غېږ کښې مې کښېنه سر مې کېږده په سينه بنکليه
ما ته خوارهٔ خوارهٔ راګوره رانه لرې مه ځه

تا له هم ستا په تورو سترګو قسمونه درکوم
زما دَ دواړو سترګو توره رانه لرې مه ځه

دَ محبت په بن کښې دغسې ټپې شوروه
دَ ژوندانهٔ دَ سرور سوره رانه لرې مه ځه

Pukhto.Net

دومره پوره ده چې په یو کهاله کښې لرې وتې
مړ به شم زهٔ ګورے خو نوره رانه لرې مهٔ ځه

دا زهٔ دریاب خو زندګۍ ستا په خوږ وتېرووم
دَچا الزامه دَچا توره رانه لرې مهٔ ځه

۶، اکتوبر ۲۰۰۲ء
جکېس

Pukhto.Net

* * *

بیا مې ماتې کړې توبې صبر تمام شو
بیا په ما مځې خورې شولې مابنام شو

بیا ئې ستا د تصور په بڼو کنم
بیا د زړهٔ د زخم پاترو ته مې پام شو

د دیا په ملګرتیا کښې ئې پرېښوم
خپل ضمیر راته په نعره لار کښې دام شو

زما ژوند چې عبارت وو . له ټکرو
ستا په غېږ کښې لږ دمه شو په آرام شو

Pukhto.Net

دَ بنګلا دَ جادوګر نه تپوس اوکړئ
چې مې څنګه دا سرکشه زړګے رام شو

دَ نامې جامې خاوند وو محبته
دریاب لاړو ستا دَ لاسه نه بدنام شو

۸ / اکتوبر ۲۰۰۲ء
چکیسر

Pukhto.Net

*

* * *

*

Pukhto.Net

يَو يُو که دوه يُو سره نهٔ بېلېږُو
يَو بل سره يُو سره نهٔ بېلېږو

شر اوکړو جنګ اوکړو جهګړه اوکړو خو
بيا هم لغه يُو سره نهٔ بېلېږو

بېلتون مو مينځ کښې سره دغې ډې
ګل او ورمه يُو سره نهٔ بېلېږو

وخته دَ جبر دا ننګ دې مهٔ ځنړوه
موږ خو اوبهٔ يُو سره نهٔ بېلېږو

هسې ځان مه خوشحالوه رقيبه
څه که خفه يو سره نه بېلېږو

ساعت کښې بېل شو په ساعت کښې يو ځائې
لکه واړه يو سره نه بېلېږو

دريابه زۀ او نازولې جانان
نس او غارمه يو سره نه بېلېږو

۱۷، اکتوبر ۲۰۰۲ء
چکېسر

* * *

Pukhto.Net

چې وسُل دا ځي مې دَ زړهٔ وتې ده
زما خونن هم پسې خولهٔ وتې ده

Pukhto-Net

بېرته ژوندۍ راستنه شوې نهٔ ده
پېغله چې دلته له کهالهٔ وتې ده

خنګ به مې خاورهٔ سرهٔ زر نهٔ ټوکوي
دَ هر ویښته نه مې خوَله وتې ده

دَ خود غرضۍ ساندې په درز کېږي اورم
دَ ضمیرونو جنازه وتې ده

رقیبه خوله کښې دې اوبهٔ مهٔ راځهٔ
زما په دې باندې چمړه وتې ده

لغړ دے وړے دے خولهیځے نهٔ واټي
دَ ښر وګړې نه لښه وتې ده

ګل پاڼې تا دې ترې خدائے نهٔ خبر وي
په دریابې دې څنګه شپه وتې ده

۱۷، اکتوبر ۲۰۰۲ء
چکیسر

* * *

○

رقیبان مې څه بې وخته رابورې شوه
دا دَ نهُ سرې ځامن راته سرې شوه

اُف زما دَ صبر څنګ امتحان اخلې
کټ کښې پرېوته خوره بنګړې بنګړې شوه

وخت مو څنګه استحصال کوې ملګرو
ګران دَ نووُ نه څیز ونه کباړې شوه

هر وګړے دَ خپل سپورې نه ویرېږې
نړۍ ښکار دَ نامعلوم اړې ګړې شوه

Pukhto.Net

دَ اُلفت نخښې ته یو رانږدې نهٔ شو
حاسدان زما دَ لاسه سرغوړې شوه

دَ یارهٔ په وېش کښې درد او غم يې راکړو
وې دریابه هن! دا ستا اړې موړې شوه

۱۹ر اکتوبر ۲۰۰۲ر
چکېسر

Pukhto.Net

* * *

وړوکے ووسه لوئے شوم په شور تل د حادثو
ژوندون مې عبارت دے له ازل د حادثو

د وخت په سرابونو کښې سوے لولپه کړم
څه تندې د غمونو او څه جل د حادثو

د مینې د مرام غنچه زړګیه هسې نه ده
ده لاړ د الزامونو او مزل د حادثو

بس ته را باندې ګران ئې چې په سر دې بلا اخلم
دا نه چې اخستے نشم بدل د حادثو

Pukhto.Net

قدرت مې عجيبه غونډې فطرت په برخه کړے
په لټه دَ صدمو يې په تکل حادثو

ملګرې دَ راحت به درنه هېر شي په آسانه
ممکن نهٔ ده چې هېر شي درنه مل دَ حادثو

ښکلا پرې دَ رنګونو قيامتونه دي شيندلي
راغلے دے درياب له جوړ اجل دَ حادثو

Pukhto.Net

۳۰ اکتوبر ۲۰۰۲ء

چکېسر

* * *

عقل مې تلې جوړ له سره ښکارې
خپله ژړا راته سندره ښکارې

یا خو ساده دې په څه نه پوهېږې
یا راته ډېره زوروره ښکارې

څو نسله نور به لا بې علمه یو مونږ
دا راته هم د سوچ خبره ښکارې

په کړو وړو مې شروع اوکړله
د جنون تبه مې شبېره ښکارې

Pukhto.Net

کلي ښارونه خوري وطن وطني
تول نړۍ راته نهره ښکاري

دنه دریاب غمونو اوخوړلو
لمسي خوشحاله دَ بهره ښکاري

۲۲ اکتوبر ۲۰۰۲ء
جکبس

Pukhto.Net

* * *

دَ سوي لاس نهٔ ئې هم زياته ساتي
خدائے خبر دا ځواني به چاته ساتي

دَ پلار وهل دَ مور سپېره خبرې
غصه په ما اوباسي ماته ساتي

ته ئې چې لوټې کوې زلفو سره
ګنې ماران وايه څوک خوا ته ساتي

اجل دې راشي چې بې غمه شمه
څله مې نور دَ ژوند ګناه ته ساتي

Pukhto.Net

زۀ به پرې ځان شیندمه دغه شانتې
هغه دې زړۀ کښې بنیرے ماته ساتې

دَ زړۀ په وران کلي کښې اوسي دریاب
ستا لېونے دے لارې تاته ساتې

۲۴, اکتوبر ۲۰۰۲,
جکیسن

Pukhto.Net

* * *

Pukhto.Net

ما زما په لغزشونو باندې نيسې
لېونې څوک په جرمونو باندې نيسې

دا نمرونه په شيشو پټول نهٔ دي
چې سپين لاس په رخسارونو باندې نيسې

په خندا کښې په شا لاړه شې کږه شې
ما له ورايه په اورونو باندې نيسې

دَ بنګلا کلي کښې همغسې خانې ده
مئينان په بيګارونو باندې نيسې

دا دَ بنګلو چې زاهد په ورځ اوسي
دا روژې په اخترونو باندې نيسي

ستا نامه به څنګه اخلمه جانانه
ما دې خلق په خوبونو باندې نيسي

دَ شپېخانو مازغهٔ نښته په کوپړو کښې
چې دریاب په زنځیرونو باندې نیسي

۲۶، اکتوبر ۲۰۰۲
چکیسر

* * *

Pukhto.Net

Pukhto.Net

مونږ به تل هلته یُو چې چرته ناست یُو
دَ جهالت دَ مړې سرته ناست یُو

دَ بې حسۍ ژړے دے نهٔ تودېږو
ډډې په ډډې اوړو نمر ته ناست یُو

څوک راته یو نه دوه وېښلے نشي
دَ مرچکي په سټه شرته ناست یُو

پښې دَ مرغۍ راوړه نړۍ په لټه
مونږه کلونو دَ اینګر ته ناست یُو

کور دَ تهذیب مو غلو دَ غرب لوټلے
هسې څوکۍ کوو کهنډر ته ناست یو

دَ رڼا فصل اخلي نور قامونه
دریابه مونږ دَ مالګې کر ته ناست یو

۲۷، اکتوبر ۲۰۰۲ء
چکیس

Pukhto.Net

*
* * *
*

آخر په څهٔ رشته به ما سره پاتې کېدو
ما ډېر پاتې کوو خو هغه نهٔ پاتې کېدو

پښتو بلا دې واخلم څو قدمه راسره شو
حالانکې دے خو ځنې په دروازه پاتې کېدو

منمه محتسبه تهٔ هم ښهٔ وے خو ما پوې کړه
زړهٔ څنګه ترې راتلے شوم چې مې زړهٔ پاتې کېدو

خو دې مې مصلحت هلته په ښو کښې چقولے
چې چرته پرې مقصد دَ ژوندانهٔ پاتې کېدو

Pukhto.Net

یو وخت وو چې به توره زما داسې چلېده چې
آسمان به ورته هم کوته په خولهٔ پاتې کېدو

ما تل د اعتقاد زورندې تورې برې ساتلې
ضمير به مانه څرنګې اودهٔ پاتې کېدو

دریا به ستا د فکر رڼای پکښې خوره شوه
ګني زمونږ دا کلے خو تیارهٔ پاتې کېدو

۲۷، اکتوبر ۲۰۰۲ ء
چکېسر

* * *

Pukhto.Net

ستا په کتلو مې هر څه کېښودهٔ
ځکه چې په ځان باندې مې پېښه کېښودهٔ

ما دې لا نوم پوره اخستے نه وُ
چا راله دواړه لاس په خوله کېښودهٔ

په مېکده کښې مخامخ شو سره
شېخ دَ ورانهٔ لاندې پیاله کېښوده

دَ بې وسۍ به درته څهٔ اووایم
په هر ارمان مې ئې چړه کېښوده

تاکه ګلان په اور باله اوتومبل
ما هم پګړۍ په سر کړه کښېنوده

خدایه خسپنې دَ جانان اوخېژې
ګوره يُې په مرګ زما سره کښېنوده

دَ يو مېلمه په سر نړۍ اوکتل
ما په زړګونو ښستانهُ کښېنوده

دَ خپلې لارې يُې دريآب وانهُ ړو
وخت که يُې غروند په سينه کښېنوده

۲۸، اکتوبر ۲۰۰۲ء

چکېس

* * *

Pukhto.Net

زهٔ دَ ښائښت دَ درنګ نه غبنې ړکووم
ستا دَ نظر دَ رنګ نه غبنې ړکووم

دَ محبت ملنګ یم غبنې ترې اخلم
زهٔ دې خپل قلنګ نه غبنې ړکووم

دَ نوي دور تقاضا ده څُکه
دَ شر فساد او جنګ نه غبنې ړکووم

دَ تصور لاس مې خواره او نیوه
ستا دَ بنګړو دَ شرنګ نه غبنې ړکووم

دَ خپل دریاب لاره کښې اودرېدمه
دَ جانانه غورځنګ نه غبنې ړکووم

۲۸، اکتوبر ۲۰۰۲ء
چکیسر

Pukhto.Net

خدائے خبر څهٔ تندر په دهٔ لوېږي
سم دَ سحره مې نن زړهٔ لوېږي

دَ ښار په شور کښې څنګ ژوندي دي خلق
مانه خو ګلي کښې مازغه لوېږي

وخت وو چې سر به په خبره لوېدو
اوس خو په توره باندې نهٔ لوېږي

زهٔ چې ئې اولیدم رپا رپې راغله
دَ شیخ دَ لاسه نه پیاله لوېږي

Pukhto.Net

چوتېږې څې په برهٔ نور قاموسه
ورځ چې تېرېږي پښتانهٔ لوېږي

دَ انتظار سورو لوټلې يمه
دَ شوګيرونه مې لمه لوېږي

دَ زلفو تار دَ ښو ستنې غوارې
تنهې دَ زړهٔ دَ ګرېوانهٔ لوېږي

دريابه لوېږي له نظرهٔ چې څوک
ښنهٔ دهٔ له دې نه چې لهٔ غرهٔ لوېږي

۲۹، اکتوبر ۲۰۰۲ء

چکېس

* * *

Pukhto.Net

ځواني مې برنډو هاډتو يوړه
دَ ژوند رڼا دَغم تيارو يوړه

زما سپېڅلې اتاڅه دَ کلتور
سمندر پورې لاړهٔ غلو يوړه

ستا په خاطر نعره ناکړه دَوخت
ما په سر سترګو په لمبو يوړه

زما ارمان تصوير کوې رسمونه
دَ رنګ اجزاءُ يې دَ لمبو يوړه

Pukhto.Net

د زمانې سازونه شو بې سُره
د سوز خوږه ۍ د نغمو يوړه

بيا ۍ سالو په مازيګر اوښړو
بيا چې ملګونه خوشبويو يوړه

ستا د بنايښت په نزاکت شوه خبر
مات شوې زړونه لوټکو يوړه

هاغه د سوچ ماده دريابه زموږ
خدائ خبر څه د ګکرو يوړه

۳۰، اکتوبر ۲۰۰۲ء

چکېس

* * *

Pukhto.Net

ذړګي که مې اوس ځان له ټولولو راټولوي
ده دا به لکه پرخه په بڼو راټولوي

چې کړ دَ محبت په للمو زمکو کوي څوک
فطرت دَ درد فصلونه په هغو راټولوي

ځواني ئې ده سحر چې څنګه پاڅي نو اول
توتې له ځېله کتبه دَ بڼګړو راټولوي

پرېشانه خوشبويانې ستنولے نشي بيا
ګلونه ګرېوانونه که هر څو راټولوي

Pukhto.Net

ښکالو دَ پایزېبونو ده شرنګا ده دَ بنګړو
تنکۍ پېغلې دې وږې په غرمو راټولوي

ګستاخ دے دَ اوویا زره پردو دننه لاړ
نظر مې رنګینۍ دَ رنګینو راټولوي

دریابه خېر دې نشته که یې اووېیلو حال
ځونډې دَ لونګین په ژړېدو راټولوي

۳۱، اکتوبر ۲۰۰۲ء
چکېسر

Pukhto.Net

* * *

سترګو دا مو څه په بَلا واړوُ
زړهٔ مو راله بنهٔ په بلا واړوُ

څوک ئې دَ صحرا په بَلا مات کړلو
څوک ئې دَ کهالهٔ په بَلا واړوُ

ورځې ئې رقیب له کړه مښین اووې
دا څو ئې لیوهٔ په بَلا واړوُ

خیال مې بې له زلفو قرارے نهٔ کوُ
ځان ئې په تیارهٔ په بَلا واړوُ

Pukhto.Net

زړهٔ به مې په بوټي کښې بلاغوښته
وخت دَ ځان خوارهٔ په بلا وارهٔ

هاغه چې درياب ئې اخسته بلا
نن هغه هغهٔ په بلا وارهٔ

۳۱، اکتوبر ۲۰۰۲ء
چکیسر

* * *

Pukhto.Net

زهٔ خو لا ځان ځارمه ځان ګورم
دَ ځان نه پسته به جانان ګورم

چې دَ انسان راته معنیٰ را اوښئ
دَ یوې مودې راسې انسان ګورم

دَ خرد کړه راته تللې ښکارې
چې دَ هستۍ خیرې ګرېوان ګورم

دَ انسانې اقدارو مړې کېږې
زهٔ ورته ښهٔ په اطمینان ګورم

Pukhto.Net

چې دَ پښتو خلاف خبره اوکړي
زهٔ خو دَ چا دَ پلار ایمان کوړم

دریابه زړهٔ مې وینې وینې ژاړي
دا بد حالې چې دَ افغان کوړم

۱، نومبر ۲۰۰۲ء
چکبس

*
* * *
*

Pukhto.Net

Pukhto.Net

راغې په تندو د پسرلو کښې کوت
جوړ چې دې خندا کړو په ننګو کښې کوت

نن ئې په جبين کښې کربنې راغللي
چا وېل چې نه راځي شيشو کښې کوت

ستا د نفاست له نزاکت نه ځار
نهٔ پرېږدي له خياله په جامو کښې کوت

ځان ته په آئين کښې فکر وړي دهٔ
جوړ ئې کړلو ګوتو په بارخو کښې کوت

ته پګړۍ کږه په ماسپخین کېږده
زه پکښې کوومه په نخرو کښې کوټ

زه دریاب مېلمه دې یم مېلمه ته خو
نه وې په وچولو پښتنو کښې کوټ

۱، نومبر ۲۰۰۲م
چکېس

* * *

پاتې مجبورۍ کړو مانه کور کلي
څوک کښې پرېږدي له ځانه کور کلي

هر څهٔ هېرېدې شي هېرېدې شي خو
نشي هېرېدے له چانه کور کلي

زهٔ د لېونتوب په دښتو سر بنهٔ ېم
عقله غواړي څه زمانه کور کلي

اخله ئې غېږ له دا به ښهٔ وي خو
مهٔ اخله د چا اسمانه کور کلي

Pukhto.Net

زۀ خو جهنم مسافرۍ ګڼم
خدائېګو او جنت جانانه کور کلے

وُ پکښې دریاب به جمعیت ړغوا
اوس خو لاړو شو پرېشانه کور کلے

۱۰ نومبر ۲۰۰۲ء

* * *

Pukhto.Net



عقل مې تلې جوړ له سره ښکاري
خپله ژړا راته سندره ښکاري

دَ ساندو نه سندرې جوړونکے ... علي خېل درياب ــ شاعر دے ــ خو سم تلّلے او سپېڅلے شاعر ــ لکه دَ خپل نوم سوچه (اوريجنل) او کوتلے (پوخ) شاعر دے ــ خپل رنګ او اسلوب لري ـ ښځې په ساهو ړول دَ غزل دَ روايت جولۍ ته خپل فکرونه په ډېر اخلاص او اعتماد پېش زو کوي ـ

دَ تغيل په ډګر دَ وخت نبض شناس او دَ خپلو ژبې دَ علم په په کالو پوره شعر ليکي . په ډېره بې ساختګۍ خپل علاقائي توري ' روزمرې او محاورې استعمالوي او خوندې کوي ـ که يو زړه ئې دَ کلفام نه نهٔ خوزي نو بل ئې دَ قام نه نهٔ شوکېږي ـ

وختـه دَ جبر ړانګ دې مهٔ ځنډوه
موږ خو اوبهٔ يُو سره نهٔ بېلېږو

ساعت کښې بېل شو په ساعت کښې يو ځلے
لکه واړهٔ يُو سره نهٔ بېلېږو

اباسين يوسفزے
پېښور پوهنتون